
ناول
لوی امپراتور
Ketabton.com
لیکوال: سید ادریس سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡـــمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيـــمِ

# د کتاب پېژندنه

نـــــوم . امپراتور *ناول*

لیکوال . سیـــد ادریـــس *ســادات*

کمپـــوز . پـخـپـلـه لیـــکوال

پښتی ډیزاین . طیـــب سکــــــون

مرسته . سعیـــد جـــــواد

د لیکوال شماره . 0731363201

چاپ کال . 2023 / 2 / 29

چینل . https://youtube.com/@sadattv1?si=q6lTxJVPfU5_TkP5

گروپ . https://chat.whatsapp.com/HerXXDLt9tM75o1BpOrBFN

په خپل نوم د خپرولو حق یې هیڅوک نلري...

S A

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**دا ناول دې زما خوږو او زړه ته رانږدې والدينو ته ډالۍ وي.**

**دا د هغوی د دعاګانو بر کت دی، چې زه اوس د داسې ناول په ليکلو بريالی شوم.**

**او ستاسې تر لاسو مې درورسوه.**

**الله تعالی دې ماته زما والدين او تاسې ته ستاسې والدين ژوندي لري.**

**او خدای دې يې هيڅکله هم زموږ له سره نه کموي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیت:**

**امپراتوري د جهان تبه دې اجل ونیسي.**

**د امت سپین لاسونه ژبې دې یرغل ونیسي.**

**دلته راغلي جنګ بایلونکي دې لړ وپوښتل شي؟**

**ځوک خو دې نر شي له غازیانو دې کابل ونیسي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پیل**

د لمونځ وخت دی.

زمان خان یې له خوبه پاڅاوه.

سترګې یې وموښلې، د اوداسه په نیت یې خپلې متې بډ وهلې.

بیرون په کلي کې د یخو اوبو شړا خته د کلي یخه هوا او سړه سیلۍ لګیده.

ژر. ژر یې اودس وکړ.

او په منډه یې په کور کې په چینجن پوزي باندې خپل لمونځ اداء کړ.

د سهار خړه وه.

او د کلي په لرې غرو رغو کې یو، نیم د لیوه اواز اوریدل کیده.

زمان خان خپل رب ته لاسونه لپه کړل:

یاربه!

لکه څرنګه چی دې یوه نیمه پیړۍ مخکې صفویان د شاه محمود په لاس ذلیله کړي وو.

خدایه! وس یو بل شاه محمود پیدا کړه، تر څو د صفویانو د ملا تیر ورمات کړي.

خدایه! زموږ هیواد یو خپل واک هیواد وګرځوه.

یاربه! موږ خپل پخوانی نوم بایللی دی.

اوس نو د خراسان په نامه هېڅ هم د ځمکې پر سر نشته خدایه!

ته خو زموږ دا بې وسه هیوادوال دومره طاقتورکړې، چی دا څلور لوې قوتونه مات کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دم غوغا ګډه شوه!

زمان خان له کوره بیرون ووت!

ټولو خلکو له یو بل سره خبرې کولې.

زمان خان هم له یوه تن څخه وپوښتل:

ورور جانه! څه خبره ده، دا ولې نن په کلي کې شور دی.

هغه ورته وویل:ولې ته خبر نه یې؟

نه !

خبر شه پښتنو، تاجکو، ازبکو، چار ایماقو او ترکمنو ډلو د کابل سیند په ورڅیرمه راغو, او بانډو, بلخَ ٌ,کندز, اندخوی, سرپل, شبرغان, هرات, او بادغیس کې د نادر پر وړاندې د خپلواکۍ بیرغونه راپورته کړې دي.

زمان خان د دې کلي پوه او هوښیار مشر دی، او د ټول هرات واګې په لاس کې لري.

د هرات ټول خلک یې یو موټی کړل، او یو لوی فوځ یې ورڅخه جوړ کړ.

تر څو دوي هم د خپلواکۍ بیرغونه راپورته کړي، او د خپل هیواد راتلونکی روښانه کړي.

په دی ورځ دوه تنه نایان د ابدالیانو کلي ته راغلل, د همدې کلي خلکو ته یې خبر راوړ.

چی نورو ولایتونو کې مقاومت کوونکي په توپونو کښیناستل،

هر ځای کی یې پاځونونه غلي کړي دي.

که چیرې تاسی دخپلواکۍ بیرغونه راپورته کړئ، نو فکر نکووم که کوم تن درکې ژوندی پاتې شي او نادر به تاسې ټول، لکه د خشاک وسوزوي.

دا دوه نفر ولاړل زمان خان د هرات ټول فوځ پخپل لاس کی ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د هغوی روحیه ډېره کمزورې شوې وه.

علت يې دا وو.

چې هغو دوو نايانو د دوې په دماغو کې سخته ویره اچولې وه.

او دا خبره رښتيا ده.

چې هغه وخت په ټول خراسان کی د شورشونو د غلي کولو لپاره سختې وينې توپې شوې خو چې يو ځای کې به يې د خلکو پاڅون غلی کړ.

بل ځای کی به ورته راولاړ شول.

زموږ د وطن والو سر کښې د هماغه وخت نه خلکو ومنله او تراوسه يي يادوي.

زمان شاه د خپلې پوهې او زيرکتيا نه په کار اخيستنې سره د ټول فوځ سر ورخلاص کړ, او د جنګ لپاره يې ښه قوي تابيا ونيوله.

زمان شاه د هرات ټول فوځ د صفويانو د دولت سره د ډغری وهلو په پار چمتو کړ.

په همدغې کال نادر هرات ته ترکمان صفي قلي خان راوليګه.

چې لښکر يې په توپچي ځواک او شوبلو هم سمبال وو.

ترکمان صفي قلي خان يې خاص د ابداليانو د ټکولو لپاره هرات ته راليګلی و.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد زمان خان تر مشرۍ لاندې ابدالي ځواک روان شو.

زمان خان د خپلې کورنۍ سره مخه ښه وکړه, ځکه د داسې یو لوی قوت سره د جنګ نه وروسته د انسان ژوندي پاتې کیدل, هیڅ امکان نلري.

زمان خان خپل مشر ځوي زولفقار خان نه پریښود, تر څو جنګ ته لاړ شي خو مور یې ورڅخه منعه کړ.

زرغونه د زولفقار خان مور ډیره زړه وره او پر وطن مینه میرمن ده, ځکه یې خپل خاوند هم د جګړې څخه منعه نکړ.

ټول ابدالي فوځ د زمان خان تر مشرۍ لاندې تر کافر کلا پورې راووت.

تر څو مرثیه یې ورڅخه فارسیان ونه نیسي.

د صفویانو فوځ یې له کومې اندیښنې د ابدالي دام ته وغورځید.

هغه داسې چې, هغوي پخپله بغیر له کومې ویرې کافر کلا ته ننوتل, او یو دم د مخې له لورې پرې یرغل وشو.

مخامخ جګړه پیل شوه.

د کارېوه ابدالي زمان خان ټوپک لرونکي ځواک, په صفوي لښکر کې اورونه بل کړل.

د درد زګیروي یې اسمان ته پورته کیدل, او د صفي قلي خان ټول لښکر د ماتې په ویره کې شاته روان شو.

د کافر کلا څخه هر تن د تیختې په حالت کې وو. د اصفهان دولت ته دې جګړې ډیر زیات تاوان ورساوه.

د صفي قلي خان فوځ دړې وړې شو, او همدا فوځ یې د مشهد په لور تیختې ته اړ شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابدالیانو د یو ستر قوت د ماتولو په پار د الله اکبر ناری ووهلې.

صفي قلي خان چی د خپل فوځ ماته پخپلو سترګو ولیدله.

نو د ژوند څخه يې مرګ غوره وباله، پخپله هم د باروتو پر بګی کښیناست.

او اور يي ور لاندی کړ.

ځان يې دړې وړې کړ.

1132کال

کافر کلا هم هاغه پخوانۍ کلا پاتې نشوه.

او د صفي قلي خان او ابدالیانو جنګ په وینو سره او په اور توره کړه.

تر دې جنګ وروسته بیا نادر د ابدالیانو او خاصکر زمان خان سره کار ونه لاره.

زمان خان دوه نیم کاله ښه په ارامۍ برم اوعزت سره په خپل هرات حکومت وکړ.

په کال1135 کی

ابدالي احمدشاه وزیګید.

خو په همدی کال یوه بده پیښه رامنځته شوه.

او هغه دا وه:

چی په همدې کال کې يې پلار له لاسه ورکړ.

د احمد خان د خپل ژوند لیکنه:

زما پلار په همغې بدبخته کال وفات شو، په کوم کال کې چې زه دې يې خونده نړۍ ته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاش چې نه وای راغلی.

زما پالنه زما مور زرغونې او زولفقار لالا په غاړه واخیسته.

زه تر ډیره وخته پدې نه پوهیدم، چې زما پلار وفات شوی.

او ذالفقار لالا می مشر ورور دی.

ځکه د هغې په شتون کې ما هیڅ د پلار کمی ندی محسوس کړی.

په لنډه معنا;

ما چې د خپل پلار په توګه پیژندلی دی، هغه ذولفقار دی او مور مې زرغونه ده.

خو وروسته مې په هر څه باندې سر خلاص شو.

زما پلار زمان خان د ټول هرات د خلکو واکمن ؤ.

ترکمان صفي قلي خان ته د ماتې وروسته ورسره نادر هیڅ کار ندی لرلای,

او خپله واکمني یې په ښه ډول سمبال کړې وه.

وس نو زما وار وو، تر څو د خپل پلار ځای ونیسم.

که څه هم زما د ورور زولفقار د دې واکمنۍ او مشرۍ سره هیڅ شوق نه وو.

خو بله لار نه وه، هغه ته قسمت په غاړه کې وراچولې وه.

زما د پلار له مړینې یو کال وروسته مې مور زه او ذولفقار له هرات څخه, راوویستؤ.

هرات ورته بدبخته ښکاریده، فکر یې کاوه.

چې د بدبختۍ تر ټولو لوې لامل یې همدا هرات دی.

ځکه مور. دواړه یې په فراه کې خپل مشر ورور علي مردان خان کره بوتللو.

مور. دواړو خپل ژوند په فراه کی پر مخ بیولو، ښکلی وخت ؤ.

زه چی کله پنځه کلن شوم ماما مې مردان خان بوتلم مدرسه کی یې واچولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د قران مجید سره ډیر شوق وو، ځکه مې په ډیر کم وخت کی زده کړ.

خو هر کله چی زه د اتو کالو شوم، ماما می هم وفات شو.

ډیره سخته وه خو ژوند په یو حال نه پاتی کیږي.

بس نور چاره مو نه وه.

ذولفقار ورور راته وویل:

وس نو نور دا ځای زموږ لپاره ښه ندی.

ځکه چی دا مهال د هرات ټول ابدالیان د نادر تر ولکې لاندې دي, او فراه ته هم نادر راتلای شي.

او امکان لري، زموږ د پلار بدله اوس هم د نادر په زړه کې وي.

او موږ به ورنه په امن ژوند هیڅکله هم ونکړو.

بس ما او ورور مې قندهار ته روان شو.

موږ ښه په حیا او عزت قندهار ته ولاړو, او هلته مو دوه درې ورځې تیرې کړې.

په څلورمه ورځ د شاه حسین عسکر راغلل، زموږ د کور دروازه یې راوټکوله زه ورغلم چی ومې کتل:

عسکر وو زه او ورور ذولفقار یې ونیولو.

1731کال:

بس زندان مو ځای شو.

فکر کووم د شاه حسېن هم زموږ د پلار سره په څه خبره دشمني وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زندان په دور کې مورې شکنجې لیدلې خو پدې نه پوهېدو چې دا زورونې ولې ګورو.

په دومره کم عمر کې د زندان د سختۍ تیرول ډېر سخت دي.

خو څه به مې کړي وای.

بله لار نه وه، خپل وطنوال راته خدای دښمن وګرځاوه.

زموږ نوره هیڅ هیله نه وه بس همدا مو فکر وو، چې ټول عمر به مو دا زندان ځای وي.

او ما فیصله وکړه که چیرته هر چا موږ له دې ځایه وباسلو.

زه به ټول عمر ورسره کومک کووم او احترام به یې کووم.

شاه حسین هم هره ورځ راته موږ سره به یې د پخوانۍ عقدې خبرې کولې.

بس زموږ هم څه

چاره نه وه.

ماته به یې ویل:

احمد خانه! زمان خان چې موږ سره څه کړي دي.

د هغې تاوان به ته راکوې.

کال:1731

په 1731کال کې موږ د شاحسین هوتک په زندان کې ولویدلو.

د هغه شکنجې ډېرې سختې وې، وخت تېرېده.

ما یوه ورځ په همدې زندان کې یو ځوان هلک ولید.

خفه او خواشینی په زندان کې ناست وو،

زه یې هم خواته ورغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره کښیناستم.

دا مهال شپه ناوخته وه، زموږ پښې او لاسونه زولنو نیولي وو.

خو د ګرځیدلو طاقت مو وو.

په دالان کې د پرتې لیمڅې نه خوړین بوی لټیده.

تکه توره تیاره وه.

صرف په کړکۍ کی د سپوږمۍ رڼا لړه راننوتې وه.

د ښیښې نه په اسمان کې تلونکې وریځې داسې ښکاریدې، لکه ډیرې نیکمرغې چې وي.

په ازاده فضا کې مزل کوي، خوند اخلي، انسانان ګوري او فنا کیږي.

د هر مارغه د منظر په لیدلو سره به مې صرف ذهن ته همدا راتلل:

شکر چې دا مارغان خو آزاد دي.

ایله دا وخت ماته معلومه شوه.

چې په قفس کې وخت تېرول، څومره سخت دي.

ځکه مې فیصله وکړه, چې هر کله د ماما کره ولاړم.

لومړی به هاغه کوترې خوشې کووم, چې ماما مې په قفس کې ساتلې دي.

په خواکې ناست زلمي ته می سلام وکړ.

د حال پښتنه می ورڅخه وکړه.

خپل ځان یې بیخي ښه وښوولو, خو څهرې یې له ورایه دا ویله, چې هلک ښه په غمونو کې ډوب دی.

هلک وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند هر چاته د ښه کیدو موقعه هم ورکوي او د ماتیدو وخت هم پرې راولي.

بس هر وخت چی دې موقع پیدا کړه:

ووزه ژوند وکړه.

او خپله ازادي دی په دایمي ویاړ بدله کړه.

ما ورځینې وپوښتل:

وروره ته څنګه دلته راغلی یې.

سوړ اسویلی یې وکیخ

ویل یې;

کیسې ډیرې اوږدې دي.

خو لنډه به درته دا ووایم, چی دا زندانونه د ګناهګارانو لپاره ندي جوړ شوي.

بلکې څوک چې ددې دولت خلاف وي، هغوي به پکې اوسیږي.

واقعا دا هلک ډېر هوښیار وو.

خو زه ترې تر اوسه پورې کشر وم.

او عمر مې څوارلسو کالو ته رسیده.

ما داهلک ډېر وغږاوه، خو اصلي قیصه یې نه کوله.

اخر کې هلک په ژړا شو او خپله قیصه یې داسې پېل کړه.

زه د هرات ابدالي یم.

که فکر ته مو راشي زموږ ابدالیانو په هرات کې یو څه وخت مخکی

"ډیر وخت نه!

څوارلس کاله مخکی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر او صفي قلي خان ته ماته ورکړې وه.

هغه وخت زما پلار د زمان خان نږدې ملګری وو.

زمان خان به له همغې سره په ټولو چارو کې مشورې کولې.

داسې نور خلک هم وو، خو ډیر اعتماد ي زما په پلار درلود.

یوه ورځ شاه حسین هوتک ورته څه ډالۍ ورولېږلی.

او په ډالیو کې یې یو لیک هم ورولیږه.

تر څو هرات هوتکیانو ته په حواله کړي.

خو زمان خان ورته ډیر کرک ځوابونه ورکړل,

ورته یې وویل;

موږ د اصفهان په رقم ستر قوت ته ماته ورکړه.

ته څه فکر کوی.

چی تاته به داسې په اسانه وسلې کیږدو.

لیکوال:

دا وخت د نړۍ په سر د افغانستان یا خراسان په نوم هیڅ هم نه وو.

او افغانستان ټول تجزیه شوی وو.

افعانستان د پردیو تر تسلط لاندې یو بې ګانه موجود وو.

هرې خوانه پری, پرَدي حکومتونه واکمن وو.

او نوی نسل خو بیخي پدې هم نه پوهیده، چی موږ هم یو خپلواکه هیواد یو او وطن مو خراسان نومیږي.

پدې نوم هیڅ هم د ځمکې پر سر نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلب خالي خلکو د غلامۍ ژوند تېروه.

او تر دوو پېړیو پورې چا د خپلواکۍ د جام نه یوه څکه هم نه وه کړې.

هماغه وو.

چی د شا حسین هوتک زمور د کورنۍ او د زمان خان د کورنۍ سره واورېدله.

او ریشتیا خلکو ویل;

چې د زمان خان د کورنۍ غړي یې هم بندیان کړي دي، خو د زندان معلومات یې نشته.

چی چیرې یې وړي دي.

ماورته ترخه موسکا وکړه!

او په وړه خوله مې ورته دا لویه خبره وکړه.

چې د هغه زمان خان کورنۍ یو زه یم او یوه مې ورور دی.

چې شاته د ټانکۍ سره په خواکۍ بیده دی.

هلک هک حېران شو,

لکه ورک څه چې یې موندلي وي ژبه یې ودریدله.

ما ورته لرې څه اوبه راوړې.

هغه یې وڅښلې بیا یې وویل;

ستا نوم څه دې.

ماورته کړه:

زما نوم احمد خان دی, او ورور می ذولفقار خان نومیږي.

ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خه ډیر ښه ګوره زه تاسو ته یوه ډیره اړینه او ضروري خبره لرم، په منډه ورشه او ورور دې راپاڅوه.

زه لاړم!

ذولفقار ته مې اواز وکړ، هغې هم ژر ژر مخ ومینځه او راغی.

دې هلک موږ ته وویل:

ګوره احمد خان او ذولفقار خانه!

زه ستاسې په ګټه درته یوه خبره کووم.

هغه داده چې!

د هغې د خبرې شروع کولو نه مخکې ما ذولفقار ورور ته دا سړی پوره وروپېژانده.

سړي وویل :نادر وس هم ژوندی دی.

او همدا تاسو پسې ګرځي که چیرې هغه خبر شي چې تاسې دلته یاست.

نو هغه ضرور دلته راځي.

خو اصلي خبره داده چې هغه تاسو دواړو ته اړتیا لري.

هغه ستاسې پلار لیدلی او ستاسې په هوښیارتیا هم باور لري.

هغه پوهیږي که تاسې ورسره شئ نو د هغې د واکمنۍ لمنه به نوره هم اوږده شي.

او تاسی کولای شئ چې د خراسان هاخوا سیمې لکه:

پنجاب, ملتان, لاهور, او همداسې نورې سیمې د هغې په امپراتورۍ کې شاملې کړئ.

نو تاسې داسې وکړئ چې په یوه طریقه خبر تر نادره پورې ورسوئ.

هغه به ستاسې لپاره ضرور راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تاسې له دې تور دوزخ څخه لومړی مو خدای وباسلی شي او بیا نادر یې وسیله ده.

ما او ذولفقار پلان جوړ کړ، چې څنګه تر نادر پورې خبر ورولیږو.

زما ذهن ته یوه مفکوره راغله!

خو ویلی مې ځکه نشوه چې مشر ورور ذولفقار خفه نشي.

ځکه زه ډیر کوچنی وم او د هغې خفګان مې هیڅکله هم نشو زغملای.

ډیر په سختۍ مې ورته وویلې, چې ورور زه یوه مشوره لرم.

هغه راته بغیر له کوم ځنډه وویل:

زر__زر یې راته وایه هله چې نور وخت په دې تور دوزخ کې نشم تېرولای.

ما ورته داسې مشوره ورکړه چې;

سباته د دې زندان څخه یو فرد خارجیږي.

نوم یې راته یاد ندی خو, که موږ هغې ته خط ورکړو.

آیا هغه به یې تر نادره ونه رسوي.

ذولفقار وویل;

واه څومره ښکلې مشوره،

دې خبرې ته خو زما هیڅ فکر نه وو.

ماچې لیک لوست په مدرسه کې زده کړي وو, نو ژرژر مې خط ولیکه.

ذولفقار به راته ویل,

ما لیکل,

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چی پوره شو.

هغه نفر چې له زندان څخه خارجيده، هغې ته مو ورکړ.

خو هغې موږ پورې ملنډې ووهلې.

او ويل يې:

نادر چې د ټول اصفهان څښتن او وس د لوې امپراتورۍ درلودونکی دی.

ته غواړې هغې ته زه دا خط ورکړم(!)

هغه لکه چې زما د تره ځوي دی(!)

خو راسره يې ونه منله.

ډيرې زارۍ مو ورته وکړې.

خو ريشتيا هم يو بيګانه انسان به څنګه د زماني تر شاه پورې خط رسوي.

دې سړي خو دخط وينه وړه.

خو يو څه وخت وروسته يو بل تن له زندانه خارجېده.

دې کس داخط ښه په مينه جيب کې کيښود.

او ژمنه يې وکړه،

چی دا ليکنه به ضرور په نادر لولي.

او نور يې هيڅ ذمه واري پخپل ځان ونه منله.

خو وې ويل:

چې دا خط به ضرور په نادر لولم.

سړی ولاړ،

او موږ په زندان کې د خپل خط جواب ته سترګې په لار پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت تیرشو, خو د نادر هیڅ معلومات ونه شو .

یوه شپه زه بیده وم.

یو دم مې د یو غټ شي آواز تر غوږه شو.

راپاڅیدم په منډه د زندان د اوسپنې مخې ته ودریدم.

دلرې ځای نه مې کتل چې;

سخته جګړه روانه وه.

او د سلطان حسین هوتک مخالفین د کامیابۍ په حالت کې ؤ.

زه پوه شوم, چې نادر راغلی دی.

په منډه مې ذولفقار راپاڅاوه, موږ خالي موقع لیدله.

تر څو وتختؤ.

او د نادر له عذاب څخه هم په امن کې شو خو د نادر عسکرو موږ ونیولو.

***

په همدې کال (1338) کې نادر افشار زموږ د ژغورلو لپاره راغی.

ټول کندهار سره یې پخپله ډغره ووهله، موږ دواړه ورونه یې مازندارن ته ولېږلو.

هلته به مو د بادشاهانو په رقم ژوند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه په ماڼۍ کې اوسیدلو, خدای تعالی (ج) راته د ډیرې سختۍ وروسته راحت راپه برخه کړ.

او یو کال مو مسلسل نادر ته په همدې ځای کې انتطار وکړ خو, هرڅومره به چې نادر ځنډېده موږ به خوشحالېدو,

ځکه که نادر راشي نو;

زموږ به په جنګونو سر شي.

او بیا به بله لار نلرو.

په همدې ماڼۍ کې یو اشپز اوسیده.

هغه به اکثر زما کوټې ته راته ماسره یې ښه ساعت تیر ؤ.

هغه ځکه چې زما او د هغې عمر یو شان وو,

او هغه پوهان وایي ;

چې هغه ملګرتیا هیڅکله هم سر نه نیسي چې د دوو ملګرو عمر پکې یا د یو بل نه ډیر وي، یاکم وي.

دا اشپز هلک داد الله نومیده.

دی پخپله افغان وو.

خو مازنداران ته یې په ظلم زیاتي او جبر راوستی ؤ.

ده به په اصل کې, خوندور خواړه پخول.

ځکه د نادر زړه ته لویدلی ؤ.

یوه ورځ ما سهار وختي قرانکریم لوسته.

زه په ماڼۍ کې ازاد وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځای ته چې به مې زړه غوښتل ولاړ شم,

اجازه وه راته...

ځکه نو;

په همدی سهار مې دروازه راټک - ټک شوه.

ما قرانکریم په قلاره بند کړ.

ورپاځیدم د دروازې زلفۍ مې خلاصه کړه.

چې ومې کتل تور دادالله وو.

لاس کې يي خوندور خواړه وو.

لکه د پسه غوښه وریجې او همداسې نور...

دا يې په لرګین لوښي کې اچولي ؤ.

او خاص زما لپاره يې چمتو کړي ول,

زه ورته کښیناستم د سهار ناشته مې خه په مړه ګېډه وکړه.

اخر کې دادُالله د جیب څخه د پاپیروس کاغذ راوباسه.

هغه يې راته راکړ او ويې ویل;

ګوره احمد خانه!

زه په تا باندې, د خپل مور او پلار څخه هم زیات باور کووم.

ځکه کومه خبره چې زه اوس تاته کووم, هغه که زما مور او پلار واوري هم.

ما به ژوندی پرینږدي.

ما ورته وویل:

ووایه وروره څه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل یي:

په اخیري منزل کې د نسیم الله په نوم یو سړی اوسیږي.

ما ورته وویل:

خا.

ویل یي:

د هغه یوه لور ده سحر نومیږي.

ما ورته وویل:

بس بس پوه شوم یاره!

مخکې دې ولې راته نه ویل;

په داسې وخت کې چې یار ــ یار ته په درد ونه خوري,

نور به کوم وخت کې په درد خوري.

ته بې غمه شه ته دې تر غرمې خپل کار وکه,

زه به داخط تر غرمې پورې وخپل ځاې ته ورسوم.

داد الله ووت.

په همدې ورځ ذولفقار بیرون وتلی وو.

ویل یې;

چې, نن نادر راځي او زه به د هغې سره وګورم, ته همدلته پاتې شه.

ماته وس نو ډیر لوې کار را په غاړه ؤ.

خو, زه خبر!

توکٌل په خدای"

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيري منزل ته راکېوتم, دروازه مې ټک_ټک کړه.

پخپلو جامو, ګیره, او پټکي مې لاس کش کړ.

يو سړی راووت.

ما ورته وويل:اسلام عليکم!

زه ابدالي احمدخان يم, هغه راځخه مخ واړولو.

او بېرته خپل کور ته وګرځيد.

دروازه يې راپسې رابنده کړه;

هک حيران شوم.

چې دا څه رقم سړی ؤ.

او زه به دادٌ الله ته څه جواب ورکووم.

يو ځل بيا مې دروازه ټک_ټک کړه.

داځل دروازې ته يوه انجلۍ راغله, فکر کووم پښتو يې زده وه.

ځکه راته يې وويل;

وبښۍ ورور ستاسې د قوم سره زما پلار جان دښمني لري.

د هغه درې زامن د ابداليانو سره په جنګ کې وژل شوي دي.

او که بيا دې,

د هغه دروازه ټک_ټک کړه.

امکان لري چې هغه مو ژوندی پرېنږدي.

ما ورته کړه:

خورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې خبره سل په سلو کې سمه ده.

خو ماته دادٌالله یو خط راکړی, زه صرف راغلی یم.

تر څو هغه خط تر تاسې پورې در ورسوم او بس ویل یې;

خا هله زر زر کوه خط راکه.

چې پلار مې ونه ګوري.

خط مې ورکړ!

او په خوشحالۍ خپل اطاق ته راغلم.

په همدې ورځ;

دادٌالله راته, د خپلې مینې قیصه وکړه.

واقعآً چې د لیلیٰ او مجنون د قیصې څخه که زیاته نه وه نو کمه هم نه وه.

قیصه به یې زه دلته ولیکم!

خو, که د چا یې لوستلو ته زړه نه کیږي.

نو, تر (***) دې علامې وروسته د ناول نوره برخه ده.

خو ویې لولۍ واقعاً چې دې کیسې د ناول خوند، ور برابر کړی دی.

*

زه نادر خان پوره اته کاله مخکې دلته راوستی یم.

مور په خپل کلي کې نیان وو.

او په ودونو خوراکونو کې به مو خوندور خواړه پخول.

او خلکو ته به مو, نوي خبرونه راوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کله کله به مو خلکو ته وېخته هم جوړول.

ځکه چی د نیانو همدغه وظیفه وي.

وختونه تېرېدل.

یوه ورځ خبر راغی;

چې نادر د خراسان په هر ولایت کې ظلمونه شروع کړي دي.

او هر ولایت نه ورپسې پاځونونه راوتي دي.

موږ دغه خبر تر کلیو, بانډو او خلکو پوری رساوه.

او د کلي ملکانو به موږ ته خپل قلنګ راکاوه.

نادر ریښتیا هم په هغه وخت کې ډیر زیات ظلمونه شروع کړي ؤو.

یو وخت موږ اصفهان ته راغلو,

تر څو نوي خبرونه واخلو;

او خراسان کې یې تر خلکو پورې ورسوو.

همداسې مو وهم کړل.

ټول خبرونه مو راغونډ کړل.

خو چې راتلو, یو نفر راباندی غږ وکړ;

چی, که چاته ښکلی پخلی زده وي.

نن د لوی پاچا د زوي سنت ګري ده,

که لوی پاچا د چا پخلی خوخ کړ.

نو, په بدل کې به یې ډیر څه ترلاسه کړي.

ما ورته وویلې چې زه یې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوکه لوې پاچا مې پخلی خوخ نکړ، نو بيادې ما زنداني کړي.

زه ټولو خلکو ډير په درنښت هغې ميلمستون ته وروبللم.

دا ميلمستون دلوی بادشا يا نادر افشار په شاهي مانۍ کې وو.

ډير عالي ميلمستون يې جوړ کړی وو.

فکر کووم دا ورته د خپلو پخوانيو مشرانو نه پاتی ؤ.

لکه;

شا حسين صفوي, اسماعيل صفوي, او همداسی نور.

په ديوالونو يې هر ډول نقاشيانی شوې وې.

د شاه حسين انځور هم په يو ديوال نقاشي شوی وو.

رقم رقم ډيوې يې پدې مانۍ کې بلې کړې وې.

ما ورنه پوښتنه وکړه;

آيا هغه همدا مانۍ وه,

ته چې يې وس يادونه کوې.

ويل يې نه!

هغه مانۍ شاهي مانۍ ده, تاسې خو يې دلته مازنداران ته راوستي ياست.

دلته صرف شاهي ميلمانه اوسيږي, هغه مانۍ کې اوس هم لوی بادشاه اوسيږي.

ما ورته وويل:

خا مخکې قيصه کوه.

ويل يې:

پدې مانۍ کې ما پوره سل ديګونه باندې کړل او ټول وخوړل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د هماغې بدبختې ورځې څخه د نادر اشپز شوم.

ددې پر ځای چې ماته انعام راکړي.

زه يې خپل غلام وګرځولم.

خو خه وه;

یو څو ورځې وروسته راسره یوه انجلۍ مخ شوه.

فارسي کې يې څه خبرې کولې.

خو زما سر پرې خلاص نشو,

په اخر کې يې پښتو شروع کړه.

ويل يې:

آيا!

تاسې دلوی بادشاه اشپز یاست؟

ما ورته وويل:

هو زه يم,

چی تاسې خو ډير خوندور خواړه پخوی.

ويل يې:

چی دا به ماته هم رازده کوی.

ما ورته وويل:

ولې نه, په دواړو سترګو

دا انجلۍ به هره ورځ راتله او زما څخه به يې چل زده کاوه.

هممم!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه چل يې نه زده کاوه.

بلکی!

که د چل زده کولو لپاره راتلای.

نو په هماغه لومړۍ ورځ هم چل زده کېده.

خو دابه راتله صرف زما د دیدن لپاره,

تر څو ما وګوري.

زما څهره ډېره بدرنګه وه تور وم.

خو مخ مې نوراني وو.

او د انجونو تنده پرې ماتېده.

او اکثر انجونې د هلک ښایست ته نه ګوري.

بلکې د هغه کړنې، اخلاق او کارکردګي خوښوي.

دا انجلۍ په ما مړه_مړه وه.

خو دا څو ورځې مخکې چې يې تاسی دلته راولیګلی.

نو لوی باد شاه زه هم دلته راولیګلم.

زما زړه ډیر سخت تنګ وو.

او بغیر د سحر نه راباندې یوه لحظه هم نه تېرېده,

بس سحر ته به مې لدې ځایه خطونه ورلیګل، خه وو.

هغې هم په کومه طریقه خپل پلار راضي کړی وو.

او ستاسې د راتګ په دویمه ورځ هغوي هم راغلل.

خو ما هیڅ چالاکي نشوه کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو تر هغې پورې دا خط ور ورسوم, څکه هغوي د ماڼۍ په اخر منزل کې وو.

او هغومره ماته اجازه نه وه, چې ولاړ شم.

نو له تا څخه نړۍ_نړۍ مننه چې زما دا کار دې وکړ.

او دا احسان به دې, زه تر مرګه هم هېر نکړم.

ما ورته وویل:

پدې کې د احسان څه خبره ده.

یاره! ملګری مې یې چې ستا لپاره دومره نکووم, نور به یې د چا لپاره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

په همدې ورځ ذولفقار راغی.

ویل یې چې نادر په ملتان, پنجاب, او کشمیر یرغلونه کړي دي.

خو د خراسان قواوې ورسره هېڅ همکاري نکوي.

موږ باید ځانونه تکړه کړو!

او د نادر د احسان بدله باید چې په احسان اداء کړو.

د ذوالفقار فکر دا وو.

خو ماسره د خپل هېواد غم وو.

ما به ویل:

چې کله به مې د خپل هېواد پخوانی برم او عزت لاسته راوړم.

او کله به د خپل هېواد پولې په ټولو نړیوالو په رسمیت پېژنم.

دا خبره مې د پلار په یوه کتابچه کی لوستلې وه، په هغې کتابچه کی زما د پلار تر ټولو لوې ارمانونه لیکل شوي ؤ.

یو پکې دا هم وو چې

(کاش خراسان په نړۍ کې داسې هیواد شي,

چې د نړۍ هر هیواد ور څخه ښار وخوري.

او د جنګ په ډګر کې ورسره،

تل د ماتې وېره وي.)

بله مهمه خبره یې داوه چې;

(c) ketabton.com: The Digital Library



(که ژوندی وم نو ضرور خپل هېواد یو خپلواک هېواد ګرځوم.

او که مړ وم.

زما بچیان او لمسیان دي یې راوګرځوي.)

دې خبرو, زما په وجود کې یو ډول جوش پیدا کړی وو.

په هر حال زه دا مهال اتلس کلن شوم.

د نادر په فوځ کې مې مکتبي زده کړې وکړې.

او تر ډېره بریده مې, خپله خواري کوله.

بس خالي د موقع په انتظار وم,

چې خپل افغانستان راوګرځوم او د پلار ارمان مې پوره کړم.

یو څه وخت همدلته پاتې شوم.

خو وروسته یې د فتوحاتو لپاره یو یو ځای ته لیګلم.

او وره ډلګۍ به راسره وه.

ځکه چې تر دې مهاله راباندې د نادر پوره یقین نه وو.

خو, هر کله چې نادر (موږ به په لوی بادشاه نوماوه.)

له هند څخه بریالی راغی.

او په مشهد کې یې ځانته جشن ونیوه, تر څو خپل زړه خوشحاله کړي.

ځکه د هند فتحه یوه لویه کارنامه وه.

په هماغه ورځ یې زه د (نورمحمد خان علیزي) په فوځ کې شامل کړم.

خدای شته دی!

دې چارې یې ماته خوند هم رانکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو بله چاره نه وه.

په دې ورځ په مشهد کې خه غوبل وو.

رقم_رقم نڅا ګرانې نادر ځانته راغوښتې وې.

هر ډول شراب يې, مخې ته پراته وو.

ټولو وزيرانو او د منصب څښتنانو يې خپل زړونه پدې ورځ ښه خوشحاله کړل.

نادر افشار سخت بدرنګه وو.

يوه نڅاګره نادر ته ورغله،

ورته يې وويل;

د لوی بادشاه حضور ته دې سلام وي.

هغې ورته په نشه کې د سلام جواب په زنګيدلي اواز ووايه.

نڅاګرې نادر ته وويل:

پاچا سلامت خدای تعالیٰ چې حسن ويشه تاسې چيرې واست.

نادر ورته نرۍ موسکا وکړه, د خپل تندي څخه يې د نشې ګونځې لرې کړې.

يوه وريځه يې د غرور په ډول وچته کړه.

ورته يې وويل:

په کومه ورځ چی الله تعالیٰ حسن ويشه!

په هغی ورځ تاسې ولاړې, د حسن په صف کې ودريدۍ او زه دبخت او طالع په صف کې ودرېدم!

وس وګورۍ

ستاسې په رقم ښکلې او حسنداره نڅاګرې پيغلې زما د بخت او طالع غلامانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او که وغواړم داسې يې وژنم.

چاقو يي راوباسه:

اوپه ډک محفل کی يې

د انجلی په مری کش کړ!

په ټول محفل کې خاموشي خپره شوه.

هيڅ چا خبره نشوه کولای.

نادر د مېو د اوبو ډک جام په سر واړاوه.

او د خپلو وزيرانو او سلاکارانو سره د خپلې خونې په لوري ولاړ.

د نادر دې غرور راته هيڅ خوند رانکړ.

او ذوالفقار چی دا هر څه وليدل, هغه ولاړه هرات ته, او خپل عادي ژوند ته يې ادامه ورکړه.

زه د نور محمد خان عليزي تر قوماندی لاندې, ارمنستان او داغستان ته وليګل شوم.

تر څو د نادر په قلمرو کې دا سيمې هم شاملې کړو.

ما ټول اسباب د سفر برابر کړل.

دا مهال زه يو عادي سرتيری نه وم، بلکی وس هم راسره خپل قطعات موجود ول.

په داغستان کې مو د جنګ اراده نه لرله.

خو د شپې له خوا راباندې دښمن بريد وکړ.

د نور محمد ټول فوځ يې خراب کړ،

او هغوي ټول اړ ول چی شاتګ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ما خپله قطعه تیاره کړه.

زه پخپله هم د دښمن منځ ته ورګډ شوم.

بس د دښمن سرونه به مو لکه د غنمو  په رقم رېبل.

د نور محمد فوځ چې زموږ جذبه ولیده.

نو شاتګ یې پرېښود.

او جنګ ته یې راودانګل په دی جګړه کې نور محمد خان سخت ټپي شو.

او ددې جګړې مشري تر اخره پورې ما وکړه.

دښمن هیڅ په میدان کې ښکاره نشو.

او د خلکو په کورونو ننوتل ځانونه یې پټ کړل.

زه په هغه غټ فیل باندې کښیناستم.

کوم چی د نور محمد خان وو، نور محمد خان یې د درملنی لاندی په همدې ځای کې ونیو.

او موږ د تخت اوتاج نیولو لپاره شاهي ماڼۍ ته روان شو.

تر شاهي ماڼۍ پورې دومره لار نه وه.

خو د فیل مزل ډېر سلو وي.

دا لږه لاره راته ډېره زیاته اوږده شوه.

د شپې یوه بجه وه چې شاهي ماڼۍ ته ورسیدو .

د داغستان شاهي ماڼۍ د ډېر شهرت درلودونکې وه.

ما کله فکر نه وو کړی, چې زه به دا ماڼۍ دومره په اسانه فتحه کړم.

خو فتحه یې هم دومره اسانه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داغستان فوځ ختم شوی او تختیدلی وو.

ډیر لږ خلک یې دشاهي ماڼۍ د ساتلو لپاره پاتې وو.

شاهي ماڼۍ ته یې ځنځیر لګولی ؤ.

فیل ځغلوونکي فیل ته حرکت ورکړ.

د فیل د لومړۍ ډغرې سره شاهي دروازه خلاصه شوه, او کوم عسکر چې پکې ول.

ټول تسلیم شول.

د ماڼۍ تر تالاره پورې ورسېدلو.

د داغستان حکمران راته تیار په تمه وو.

د شاهي احترام له مخې زه ورته نېغ ودرېدم.

او داسې الفاظ مې له خولې څخه راوباسل.

ښاغلی حکمران صاحب!

امکان لري قدرت به ستاسو د حکومت نیټه همدومره ټاکلې وه.

زه پدې خوشحال یم.

چې ستاسې په هیواد کې زیات جنګ ونشو.

او ملکي وګړو ته مو هیڅ زیان ونه رسېد.

وس نو باید زه ستاسې تاج لوی بادشاه نادر ته ورسوم!

ځکه دا د هغه غوښتنه ده.

تاج مو یې له سر څخه کوز کړ.

دلته مو د همدې داغستان نفر چې پخوا زموږ جاسوسان وو.

د حکمران په توګه وټاکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوې وسایلو زموږ ملا نوره هم قوي کړه.

داغستان د نړۍ د لویو طاقت لرونکو هیوادونو څخه وو.

او د نیولو ګټه یې داوه چې د نادر امپراتوري ورسره تر ډېره حده قوي کیده.

له دې سترې بریا څخه وروسته زه د نادر د خاص فوځ مشر شوم.

نور محمد خان هم زموږ د لاس لاندې عسکرو کې وشمارل شو.

د همدې ورځې په سبا نادر ماته د ارمنستان نقشه راکړه.

ترڅو د جنګ لپاره هلته ولاړ شو.

او ارمنستان هم د نادر په قلمرو کی شامل کړو.

نادر په ما تر خپل ځانه زیات باور درلود.

نه پوهیږم ولې خو داسې معلومیده راته لکه نادر چی پوهیږي.

چې زه به ضرور ورته د هر جنګ

کامیابي راوړم.

د ارمنستان سره په جګړه کی مو ډیره قرباني ورکړه.

خو اخر هم مخالف لوری تسلیم شو.

او موږ خدای کامیابه کړو.

له دی فتحې څخه وروسته یو ځل بیا د نادر فکر زما طرفته شو.

ماورنه غوښتنه وکړه;

ترڅو ما د ټول افغانستان د فوځونو مشر وټاکي.

تر څو د افغانستان سرتیري هم د نادر د ګټې لپاره وکاروم.

خو نادر نه منله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې نادر د هرڅه باور راباندې کاوه.

خو د دې څه باور يې نه درلود.

خو هرڅنګه چې وو.

زه يې اخر د خپل افغان فوځ مشر کړم.

پدې ورځ زما خوشحالي د اختر د ورځې څخه هم ډيره وه.

ځکه زما ارمان همدا وو;

چې د افغان فوځ مشر شم.

او د خپل پلار ارمان پوره کړم.

له دې څخه وروسته زه په هرات کې د ټولو ابداليانو هزاره وو او ايماقو فوځونو منځ کې مشهور شوم.

مطلب په لږ وخت کې مې ډير زيات شهرت پېدا کړ.

په لار کې چې به هر نارينه او مېرمن کتلم.

ګوته به يې راته نيوله, چې هاغه ابدالي احمد خان دی.

د ټول افغان فوځ مشر زه دا مهال په يوه معنا د ټولو افغانانو حکمران هم وم.

ځکه چې فوځ د چا په لاس کې وي.

هغه ته د حکمران درجه هم ورکولای شو,

خو زه د عامو خلکو په رقم ګرځيدم.

ځکه چې د شاهي اصولو څخه ناخبر وم.

او دا هم راته معلومه نه وه چې, د فوځ د مشر څه حيثيت وي.

ځکه نو نادر بېرته اصفهان ته وغوښتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته مې د شاهي اصولو سره سره د نادر شاه افشار ډېر پټ رازونه هم مطالعه کړل.

او د شاهي اصولو پټ رازونه چې باید هېڅکله هم ملت ته افشا نشي.

هغه هم یاد کړل د دربار ژوند د عادي ژوند څخه ډېر فرق لري.

ځکه که چیرته یو مشهور او ملت ته ریښتینی خدمت ګار فرد بېرون په لارو او کوسو کې د عادي انسانانو په رقم وګرځي.

نو دښمن ته ډیره ښه موقع برابریږي.

تر څو ورڅخه ټک پورته کړي او ختم یې کړي.

باید داسی خدمت ګار شخص پټ وساتل شي، تر څو د ښکار خوړونکي دښمن ښکار نشي.

زه یوځل بیا د دادالله سره مخامخ شوم.

هغه وس هم په هماغه ځای کې د نادر سره اشپز وو.

ما ورسره روغبړ وکړ.

ویل یې:

یاره احمد خانه تر څو پورې به د نادر سره پدې شاهي زندان کې شپې سبا کووم.

ته راته څه لاره برابره کړه کنه,

ترڅو دواړه لدی ځایه ولاړ شو.

ماورته وویل:

یاره ته بې غمه شه.

انشالله سبا زه زم او تا به هم یوځای له ځان سره بوزم.

ته باید ماسره په ټولو چارو کې مرستیال واوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صرف همدا یوه ورځ صبر وکړه.

نور مو هم ډیر مجلس سره وکړ.

د میني په اړه مې ورڅخه وپوښتل:

ډیر خفه وو .

ویل یې:

پلار یې غواړي, خپله لور کوم فارسي هلک ته په نکاح کړي.

خو لور یې ورسره نه مني.

او لور یې وایي که زه یې بل چاته په نکاح کړم.

زه به خپل ځان ووژنم.

زه ویرګم هڅې نه سحر لیونۍ ځان مړ کړي.

کنا بیا زه هم یو انسان یم.

زه هم پدې دنیا بغیر له هغې څخه ژوند نشم کولای .

او هغه چې دومره جرأت کولای شي، زه یې ولې ونشم کړای.

ماورته وویل:

یاره ته بې غمه شه.

انشالله سبا سحر ته به سحر هم لدې ځایه بوځو.

دا شپه ما او دادُالله خه مجلس وکړ.

او تر ناوخته پورې ویښ ؤ.

هر کله چې سهار شو، دادُالله خپل پنډونه وتړل، ماهم ځان دتک لپاره اماده کړ.

لومړی مې د نادر نه د تګ امر واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې نادر راته امر راکړ:

ما په همدې امر ځان سره دادالله هم تر اخیري منزله راښکته کړ.

د سحر دوي د کور مخې ته ودرېدو.

هیڅ لار نه وه تر څو سحر له کوره راوباسو.

ډېر فکر مو وواهه خو هېڅ چاره نه کېده.

د یو څه شیې وروسته د سهار پلار له کوره راووت زه چې یې ولیدلم.

مخ یې واړاوه ویل یې:

ته بیا راغلی یې!

خبر شوی یم، وس د ټولو افغانانو ابدالیانو او ټولو قومونو د فوځ مشر شوی یې مبارک دې وي.

او ها سبا زما د لور سحر واده دی.

هتمن تاسی دواړه راشئ.

نور یې پلار روان شو.

د شا خوانه ورپسې اواز وشو، نسیم شا بیا که سر اي دخترت چی شد.

نسیم شاه په منډه کور ته وځغستل، زه پوه شوم چې کیسه ورانه شوه.

دادُالله مې ځان سره په زور مخکې کړ، هغه نه ته

سوال یې راته وکړ.

چې خبر دی، یو ځل مې د سحر دیدن ته پریږده.

په زور ولاړ;

ماهم وکتل سحر په اشپز خانه کې خپل لاس په چاقو خیري کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د خولې څخه يې هم د وينو دارې روانې وې.

دادﷲ يو دم د نسيم شاه کاکا غاړې ته لاس واچاوه.

د دوو سوکونو سره يې سړی پر مخ  په ځمکه راوغورځاوه.

مور يې هم ورته يوه کلکه سپيره کش کړه،

چاقو يې راوخيست;

ما ورنه په زور چاقو واخيست.

او د ځان سره مې مخکی کړ، شکر چې نسيم کاکا د اوچتېدلو نه وو.

کنه دلته به ځومره غټ مشکل جوړيده، سترګې مې د اوښکو نه ډکې شوې او دادﷲ مې مخکې کړ.

هغې د درد ځګيروي کول او ما ګاډۍ ته اوچت کړ.

راساً مې خراسان ته راوست.

په لاره کې يې راته د سحر هره خبره کوله، د هغې په مينه کتل به يې باربار راته يادول.

ماته به يې ويل خېر دی احمد خانه!

ما پرېږده ماهيڅ مسوليت د سحر لپاره ادا نکړ، کاش پرون مې د سحر پلار نسيم همدغسې په سوکانو وهلی وای.

نن به ولی داسې په سرو سترګو ژړيدم.

ولې به مې د خپلې مينې بی روحه جسد کتلای، لکه د ليونيانو په شان چيغې يې وهلې په درې نفرو مو کلک کړې وو.

هيڅ نه کلاريده په خراسان کې مې يو روغتون ته وسپارلو.

زه ترې ولاړم خپل ځانګړي ځای ته، هر کله چې د خوب وخت شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ته مې شړۍ اواره کړه پکې پریوتم دوه درې دقیقې به مې سترګې نه وې، ورغلې;

چې دروازه ټک_ټک شوه.

راپاڅېدم.

یخه هوا په کړکۍ کې راننوتله, بیرون باد د کړکۍ پله په زوره د لاستي سره وهله.

د بریښنا، درزونو په اسمان کې د ویرې ماحول جوړ کړی وو.

هر کله چې زه بهر راووتم، د دروازی زلفۍ می خلاصه کړه.

ومی کتل;

چی پوسته خانی والا خط رالیګلې!

لیکلي یې وو: ((ستاسې خاص ملګری چې ستاسې سره له اصفهانه راغلی وو.

دادُالله نن د روغتون څخه تختېدلی دی.

موږ ستاسی څخه هیله لرو ،

چې خپل عسکر مو د هیغی د پلټنی لپاره ولیږی، تر څو هغه پیدا او یوځل بیایې روغتون ته راولي.))

دواړه لاسونه مې سر ته تکیه کړل.

ژر مې خط ولیکه.

او د همدی پوسته خانی والا په لاس مې ټولو عسکرو ته ولیګه.

په ډیر لږ وخت کې یې دادُالله پیدا کړ،

نه;

دادالله یې پېدا نکړ;

بلکی;

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داداللہ مړ جسد يې پيداکړ.😨

اِنا لله وانا اليه راجعون.

غم يې وس هم ما ډېر کړوي.

د سحر د مړيني غم دومره خفه نکړم خو د دادٌاللہ مړيني راباندي شپه او ورځ خوب حرام کړ.

بس رسم شوي انځور ته به مې يې هره ورځ ويرونه کول.

خو اخر کې مې دې هر څه ته د يو خوب په نظر وکتل،

ځکه که چيرې ماتول عمر د همدې لپاره خفګان کولای.

نو بيا رانه ژوند پاتې کيده.

خو له دې پيښې څخه مې يو څه زده کړل.

هغه دا  که چيرې خپله ويره يوه ورځ مخکې هم له مينځه يوسو.

نو ډيره زياته ګټه به وکړو.

او امکان دې ولري چې خپل ژوند او د يو بل نفر ژوند هم بچ کړو .

زه د خپل يار په غم کې اخته وم چې خبر راغی، نادر يې وواژه.

د دی پيښې نه هم زه بيا وروسته خبر شوم، چې نادر چا وواژه.

نادر د محمد خان قاجار او د هغه د ملګرو په ګډون په خبوشان کې ووژل شو.

هغه داسې وه چې د نادر ظلمونه له حد څخه واوړيدل.

لکه;

د هغی نه يي د سيکانو ظلم يادولای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکان يې په هند کې هيڅ په ارامه نه پرېښودل هغوي يې اخر دېته اړ کړل تر څو خپل ځايونه پرېږدي.

او ولاړ شي د پېښور بازې سيمو ته خو هلته هم د نادر د ظلم لاندې راغلل او ټول ووژل شول

(ليکوال)

سيکان هغه ورځ وس هم هر کال لمانځي او وير پرې کوي.

دا د هماغه ظلمونو نتيجه ده چې وس په هندوستان کې هر مسلمان باندی ظلم کيږي.

وژل کيږي او ډيری مسلمانان د کشمير اولاهور له لارې پاکستان ته راتختي، لکه څنګه چې يې پښتو ناول [زه دچا لور نه يم] کې يادونه شوی ده.

پوهيږم چې په ناول کې د ليکوال خبرې ستړې کوونکې وي خو بايد چې د پوهاوي لپاره يو څه وويل شي)

او د دومره لويې امپراتورۍ څښتن خو به خود د يو چا د تورې لاندې راځي.

ځکه چې د امپراتورۍ سره سره يې ډير دښمنان هم درلودل.

د نادر د مرګ د خبر اوريدو سره سم د نادر ټول فوځ د نادر د کورنۍ د وژلو لپاره لستوڼي رابډ وهل.

زما ورتګ هلته مشکل وو.

خو د يو ماهر خواته ورغلم، هغه راته د يوسړي ادرس راکړ.

هر کله چې ولاړم.

دې نفر يو څه کوترې ساتلې وې.

ښه تربيه يې ورکړې وه ما ورته خپل مشکل ووايه;

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې راته وويل:

چې هېڅ خبره نده زما دا کوترې کولای شي.

ستاسې ليکنه تر اصفهانه پورې ورسوي.

ما همدلته د اصفهان د فوځ لپاره خط وليکه وس مې له ياده وتی خو دا خبرې مې پکې ذکر کړي دي.

چې که هر چا د نادر د کورنۍ يو ويښته ته هم زيان ورساوه.

زما سره دې ډغرې وهلو ته چمتو شي.

د نادر ټول فوځ زما څخه زيات بيربېده.

ځکه چې د نادر ټوله امپراتوري زما په لاس کې وه او هم يې فوځ تر ډيره وخته زما د لاس لاندې پاتې شوی وؤ.

په همدې ورځ مې:

د کوترو په ذريعه درې خطونه ورولېګل.

او شاته ورپسې زه خپله د اوزبکو، ايماقو، ابدالي او ټول افغان فوځ سره وروان شوم.

بغير له کومې ويرې د اصفهان ښار ته ورننوتو.

او همداسې تر شاهي ماڼۍ پورې ورغلو.

د نادر کورنۍ ته مو د زړه د صبر دعا وغوښته.

او نادر ته مو هم د مغفرت دعا وکړه, د نادر د کورنۍ شاوخوا مو پوره يوه مياشت پيره وکړه.

تر دې پورې چې د اصفهان حکومت خپل حکمران وټاکلو.

خو نور يې ما امر نشو منلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه موږ هم دا ارمان درلود تر څو یو خپلواکه هیواد ولرو, او له نړۍ سره ځان سیال کړو.

هر کله چې زه د خپل فوځ سره د اصفهان نه راتلم, نو د نادر میرمن د فخراج یوه قیمتي ډبره ماته ډالۍ کړه.

او مننه يې وکړه.

د هغې قیمتي ډبرې نوم کوه نور وو.

هغه اوس هم د افغانستان په مشهور ولایت, (هرات) کې شتون لري.

او زه هیله لرم.

چې د افغانستان ټول راتلونکی نسل يې د قیامت تر ورځې پورې په خپل هیواد کې وساتي.

پالنه يې وکړي او پرې وویاړي.

(لیکوال)

دغه قیمتي ډبره چې ابدالي بابا ذکر کړه, دا ډبره وس مهال لپاره د انګلستان په مشهور موزیم کې ده.

او دا يې د خپل حکومت په دور کې چې بدبختانه

ډیرو بې غیرته افغانانو هم ورسره لاس یو کړی وو.

لدې ځای څخه وخپل هیواد ته وړې ده.

موږ اصفهان د تل او تل لپاره پرېښود, او خپل خراسان ته راغلو.

په قندهار کې افغان مشرانو هر یو:

(حاجي جمال خان بارکزی ,محب خان پوپلزی, موسیٰ خان اسحاق زی, نور محمد خان علیزي او نصرالله خان نورزي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کندهار کی د شیر سرخ د مقبرې په خوا کې چې نادر اباد کې موقعیت لري.

یوه جرګه جوړه کړه, تر څو ملي مشر وټاکي.

زه غلی یوې خواته کښیناستم.

ځکه چی;

یو عادي د فوځ مشر وم.

او د دومره لوی هېواد مشري چې تر اوسه پورې یې نوم او نښان معلوم نه وؤ.

زه به یې چیرته سمبال کړای شم.

هر خان به د خپل ځان په باره کې غټې_غټې خبرې کولې.

او غوښتل یې تر څو د دې لوی هېواد مسؤلیت پخپله غاړه واخلي.

هر فرد به یو بل ردول, لومړۍ ورځ همداسې تېره شوه.

خو هېڅ نفر بل نفر ونه منلو په سبا یې بیا همدا حالت ؤ.

خو کومې پرېکړې ته ونه رسیدل.

اته ورځې مثلثل دا لړۍ روانه وه.

اخر کې یو نفر راغی.

ټولو ته یې وویل;

وه وروره تاسې څه د ماشومانو کانې را اخیستې دي.

دا د یوه هېواد مشري ده.

باید چې داسې انسان ته یې وسپارو, چې مستحق یې وي.

زه درته وایم.

زه داسې یو انسان پدې ساحه کې پیژنم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تاسو کې یو فرد هم نه پیژني.

تاسې به ماسره دا وعده کوئ چې, هغه فرد که هر چاته ګوته ونیوله, هماغه به د هیواد ملي مشر وي.

ټولو ورسره ومنله دا فرد بیرون د سرخ زمري په خوا کی پروت وو.

ټول ژوند یې د همدې مقبرې زیارت ته وقف کړی وو, دغه صوفي شراب څښونکی درویش پاڅېد.

لومړی یې په ټولو نظر تېر کړ بیا بیرون ووت.

شېبه به نه وه تیره چې بېرته راغی.

دوه د غنمو وږي یې په لاس کې نیولي د ټولو خانانو په منځ کی تېر او د احمد خان په لونګۍ کې یې دا دوه د غنمو وږي د تاج په نوم ورکېښودل.

او وېې ویل:

"دا ستا جیغه ده او ته د افغانانو پاچا یې "ټولو د کابلي صابر شاه دغه پریکړه ومنله او پرې خوشحاله شول.

دشېر سرخ په مزار باندې سپین بېرغ رپېږي.

او د افغانانو د ملت مشران ترې لاندی راغونډ دي، یوې خوا اوبلې خوا ترې آسونه څغلي.

د پښو ګرد یې اسمان ته پورته کیږي.

د شنه اسمان لاندې بور ځلیږي.

مځکه له هیبته ریږدي.

د افغانانو مشران سره په مرکه دي او کشران یې انتظار باسي ترڅو د هغوي مشران څه فیصله کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابلي صابر شاه پدې بیت ویلو سره احمد خان ته مبارکي وایي.

تخت وتاج دې مبارک شه
د پښتون ټبر زلمیه
دا ملت دې پر تا لوړ شي
په غلیم شوې بریالیه

ستر واکمن شوې ددې خاورې
رب دې ستر لره زمریه
د ولس په غم شریک شه
ملت ویښ کړه ننګیالیه

یو ګړۍ غفلت ونه کړی
واک ستا سوله دی په څه
په دردو یې ځان خبر کړه
لاس دې مینځه له هوسه

نور د هیڅ شي کمی نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تنها چې تربیه شي
په ملي روح يې ژوندون وي
له تقلیده بیګانه شي

يو د بل په غم شريک شي
د نفاق څخه ګوښه شي
خپل ځان وپېژني هڅې
چې پر ځان باندې تکیه شي

اوس نو ستا ولاس ته ګوره
ملا دې وتړه احمده
د خپل قام په خدمت پاڅه
مرسته غواړه له احده

زه له همدې ورځې څخه وروسته د احمدخان څخه په احمد شاه دراني بدل شوم.
دا منصب خومره خه څيز دی کنه!
تر اوسه پورې احمد وم، خو چې منصب مې پیدا کړ.
احمدشاه دراني شوم دا وخت زما عمر غالبا 25کاله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو لومړی کار مې د یو داسی جرګې جوړول وو، چې موږ ورسره د ټول هېواد په اړه مشورې وکړو.

هغوي راسره خپل نظرونه شریک کړي.

دا خلک به پوهان عالمان او د خه زړه ښتنان وي.

بل په کندهار او هرات کی د یو داسې مانۍ جوړول، ترڅو خلک یې شاهي مانۍ وبولي.

د هر هیواد خلک ورته راشي.

او زموږ شاهي مانۍ و اوسي.

او بله مهمه خبره د خپل هېواد ټولې پولې راګرځول.

خپل هیوادوال د دوه ډله کیدلو نه ساتل اوجنګ د خپل هېواد او وطن نه لیرې شړل وؤ.

موږ یوه قطعه جوړه کړه.

د غلامخانې په نوم چې هر ډول خدمت ته چمتو وه.

موږ خپل فوځ په دوه برخو وېشلی وو، یو خو عادي سرتیري وو.

چې جنګ ته به استول کیدل، خو د دوهمی ډلې تخنیک ما د نادر افشار له طریقې څخه زده کړ.

لکه څنګه چی افشار پاچا غیر فارسي قومونه لکه افغانان، بلوچ، ایماق، او ازبکان د خپلو ساتونکو په ډول ګمارلي وو.

موږ هم د غلامخانې قطعه جوړه کړه.

چې غېر پښتون عناصر او تعلیم لرونکي قزلباش عسکر مو په هغې کې شامل کړل.

له دې عمل څخه مو موخه داوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم خانان چې سرکښي کوي.

او د حکومت لپاره جنجال جوړيږي.

د هغوي خوله به د هغوي د کليوالو په مصروفولو وربنده شي.

چې په شاهي ماڼۍ کې کار کوي او په ډيره اسانۍ سره به دا خانان هم د مرکزي حکومت اطاعت وکړي.

زه د خپل عمر په لحظې لحظې تېرېدلو سخت خفه کېدم.

داسې هيڅ څوک راسره نه ؤ.

چې خپل زړه ورته تش کړم، بس يوه ورځ مې د پاپيروس يوه ورقه راواخيسته او په تورکې مې پرې وليکل.

شيرين عمر چی تيريږي دريغه دريغه

داوبو په څير بهيږي دريغه دريغه

ولی زړه پرې خبر نه دی له رفتنه

چې دا هسې زر تېريږي درېغه درېغه

ولې هسې شوې بې غمه زما دله.

عمر باد غوندې چليږي دريغه دريغه

که هر څو په ډېر ناز جوړی کړی ماڼۍ

په ارمان ځينې پاتيږي دريغه دريغه

درېغه درېغه اخر درېغه زما دله

چی مين جمله تيريږي دريغه دريغه

دا ياران لکه ګلونه د بهار دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خزان په تاو رژېږي دريغه دريغه

د هجران مثال دوزخ بېلتون ډېرې

د عاشق په سر لګيږي دريغه دريغه

که پېدا نه وای ديدن بېلتون به مړ وو

له ديدنه خون بهيږي دريغه دريغه

اشنايي په مثال ګل حاصل يې ښار دی

ښار شي سخت هله سوخيږي دريغه دريغه

احمدشاه به يې څه غم کا وخت دهوش دی

دوصال نوبت غږيږي دريغه دريغه

له دې څخه وروسته مې د شعر او شاعرۍ سره علاقه پيدا شوه.

هر ځای او هر ډول ماحول کې به مې ليکنې کولې.

د شېر سرخ په جرګه کې د افغاني دود او دستور له مخې انجونو پېغلو او مېرمنو هيڅ ګډون نه وو کړی.

بس چې جرګه خلاصه شوه.

ځوانان او ماشومان ولاړل خپلو کورونو کې يې غوغا ګډه کړه چې احمدخان بادشاه شو!

د همدې جرګې خبره په همدې ورځ تر ټول خراسانه پورې ورسېدله هره پيغله او هره ميرمن خبره شوه.

هغوي ټولې ولاړې، زموږ کور ته او زما مور زرغونې ته يې د ځوی د حکمرانۍ مبارکي ورکړه.

زما مور هم پدې ورځ د خوشحالۍ څخه په جامو کې نه ځايېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرې خوانه په هېواد کې جشنونه وو.

ځکه چې بل هیڅ داسې قوت نه وو پاتی چې افغانان دې نور پرمختګ ته پرینږدي.

موږ د نادر په فوځ باندې ټول قوتونه خه وځپل.

موږ په داسی عصر او زمان کې ژوند کړی دی، چی د هېڅ طرف څخه هم زموږ هېواد ته څه خطر نه وو.

ځکه د نادر د وژل کیدو څخه وروسته د فارسیانو مرال ډېر ضعیف شوی وو.

د هغوي خپلې کورنۍ جګړې دومره زیاتې شوې وې، چې بهر ته یې فکر هم نشو کولای.

اونه هم د هند د مغولو هاغه قدرت او جلال پاتې وو.

بس صرف نوم او درباري القاب او تشریفات ورپاتې وو، په شمال کې هم داسې قوي دولت نه وو پاتې چې افغانستان ته خطر ولري.

او د بخارا  امیر نه یوازې دا چې په بل چا یې یرغل نشو کولای بلکې د ځان څخه د دفاع توان یې هم نه درلود.

فکر کووم لکه څنګه چې به تل افغانستان ته یو بلا پیښېده او افغانان یې خپل کورګي ابادولو ته نه پریښودل.

داخلي هڅې کومې بلا شتون نه درلود او افغانانو کولای شول چې په خلاص زړه خپل کورګی اباد کړي.

خو زه داسې انسان نه وم چی یوازې دې د خپل کور په ابادولو قانع شم، بلکی د ټولی نړۍ ابادول مې هیله وه.

او فکر کووم چې تر ډېره حده خپل منزل ته رسېدلی هم یم.

زموږ په وطن کې نور هر څه خه برابر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې زه پوهېدم چې موږ کومې برياوې تر اوسه حاصلې کړيدي.

ټولی مو د همدی پښتنو ورونو په مټ حاصلې کړي دي.

خو له دې سره سره بيا هم پښتانه په دوه ډلو ويشل شوي دي.

اوداليان اوغلجيان ماډير فکر وکړ.

خو د دوي د يوځای کولو هيڅ لاره نه وه.

بس د زړه له درده مې دغه نظم خپلو وطنوالو ته ډالی کړ.

قافله د عشق راغلی د کوم خوا ده

په زړګي باندې مې شته که څه غوغا ده

ټول يوه دي که غلجي که اوداليي دي

خه هغه چې يي دزړه شيشه صفا ده

چی عمل يي د نيکی دې ميړه هغه

که اغوستي يې ګدله د خامتا ده

پښتانه دي ټوله لاس سره يو کاندي

چې مو نن غزا هر لوري شاوخوا ده

بې زحمته راحت چيرته موندی نشي

د احمد ځکه په هر لوري غزا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څه وخت وروسته د خراسان خلکو ځانته مهر جوړ کړ چې په هغه کې لیکل شوي وو.

الحکم الله یا فاتح احمد شاه دراني ـ

له همدی مهر څخه وروسته مو شورا جوړه کړه تر څو د هر قوم او قبیلی مشران پکی وي.

د خراسان نوم موږ ته یو ډول پخوانۍ غلامۍ ښکارندويي کوله. ځکه چې هغه نوم زموږ د تېرو تورو وختونو نماینده ګي کوله.

وس نو باید یو نوی نوم د خراسان لپاره وټاکو.

د هر ډول خلکو مشوره به مو اورېدله.

بلکې زه به په لارو او کوسو کې ګرځېدم د عوامو نه به مو پوښتنې کولې.

تر څو دوي د خراسان لپاره کوم ډول نوم غوره ګڼي.

هر کراچۍ والا هر دیاني مار او هر خټګر نه به مو پوښتنې کولې.

ترڅو دوي د خراسان لپاره کوم نوم غوره ګڼي.

د ډېرو پښتنو  د حال احوال اخیستلو څخه وروسته مو لویه جرګه رامنځته کړه.

په هغې کې د هر ولایت او د هرې ساحې امامان موجود ول.

د هر افغان فرد اواز رسوونکی موږ سره پدې جرګه کې شامل وو.

زموږ ټیم د ډېرو پوښتنو او ډېر فکر څخه وروسته یو نوم غوره کړ؟

اوغانستان :

اوغانان هغو خلکو ته ویل کیږي، چی صرف د غرو اورغو خلک وي.

د نهرونو او اوبو تر څنګ ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل د صافی هوا سره بلد وي او د پاک زړه خاوندان وي.

تل خلکو ته بخشش کوي.

اوغان پخپله هغه چاته وايي چې خپل سری وي.

او د هوا په څېر تېز خپل کارونه سرته رسوي او چی هر څوک یې په لومړي ځل وګوري.

نو زړه پرې بايلي او تراخره پورې یې په ملګرتیا نه پښېمانه کيږي.

واقعاً دا يو خه نوم وو.

مور دې درې ورځې جرګې دې پريکړې ته ورسولو چې د خراسان نوم په اوغانستان بدل کړو.

خو د اوغانستان نوم اوغانستان پاتي نشو،

بلکې د ديني عالمانو په وينا اوغانستان نوم يو د غرور نه ډکو خلکو لپاره استعماليږي.

نو ځکه ډېرو علماوو فتوا ورکړه.

چې د اوغانستان نوم دې بدل شي.

ځکه  نو د اوغانستان نوم په افغانستان تبديل شو.

او تر قيامته پورې به انشالله د افغانستان په نوم دا خاوره ونومول شي.

زه د خپلو خلکو نه همدا تمه لرم.

مور چې کومې سيمې نيولې هغه که پريدي هم څه خبره نده. خو بايد د افغانستان يوه برخه هم د غليم په لاس ورنکړل شي.

تاسې به فکر کوی چې زه صرف يو زوي لرم ؟

نا زما زوي خالي تيمور ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه د تېمور په څېر نهه نور زامن هم لرم.

بس دامې وېنا وه چې هغه نورو کې دې يو هم شاهي ميراث ته سترګې نه پټوي.

خالي تيمور شاه مې د خپل وليعهد په توګه ټاکلی وو.

داسې نه وه چې هغه نور زامن پر ما ګران نه وو، يا کومه بله خبره وه.

بلکې که چېرې زه داسې ونکړم.

نو زما د مرګ څخه وروسته به زما د ټولو زامنو په شاهي ميراث لانجه وي.

او هېڅوک به مې هم  په هاغه وخت کې چې خدای ته يې لاسونه لپه کړي وي.

ما په دعاوو کې ياد نکړي.

او برعکس به د خپلو افغانانو د خېرو ښکار شم.

کال: 1160هـ(1747ز)

په پای کې مو تکل وکړ.

تر څو د افغانستان او د پختونخوا ټولې سيمې پخپل واک کې واخلو.

لکه کابل، غزني او پېښور چې دا مهال پکې (تيموري او نادري پخوانی حاکم)ناصر خان مېشت وو.

زه د پوښتنو قبايلو د يوځای کولو څخه وروسته روان شوم.

د غزني په لور ترڅو د افغانستان سرحدونه راوګرځوو.

او د پرديو يرغلګرو له زور او ځواک څخه نور پښتانه ورونه خپل وطنوال او خاصکر مسلمانان وژغورو.

د پښتنو قبايلو څخه مو ښه پوره ځواک برابر شو.

بلکې د غلامخانې عسکر مو هم ورسره ملګري کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی مو د غزني څخه په لږه فاصله کې خپلې خیمې ودرولې.

او د غزني حاکم ته مو په لیکلي بڼه د صلحې پېغام ورولیږه.

ترڅو نور پر افغانانو د خپلو ظلمونو څخه لاس واخلي.

د غزني حاکم زموږ په ورلېږل شوي خط هېڅ ځان ونه پوهاوه.

پوره یوه ورځ مو ورته صبر وکړ.

ترڅو بېرته پیغام راشي، خو پیغام رانغی.

مطلب جګړه يې غوښتله.

خو دا بیا مانه غوښتل.

ځکه چې پښتنو او خاصکر افغانانو ته به پدې جګړه کې ډېر زیات تاوانونه اوړېدلي وای.

بس عسکر مو د عامو خلکو په جامه کې ښار ته ورداخل کړل.

ټول عسکر مو اول نه پوه کړي ول.

چې هرکله شاهي خېمې ته ورسېدل نو ضرور به ورته وسلې ورسیږي.

او سم د واره باید بریدوکړي.

لومړنۍ ډله مو بغیر د اصلحو څخه ورولېګله.

دوهمه ډله د اصلحو سره د غزني ولایت ته دننه شوه.

پریکړه اول نه شوې وه.

چې دوهمې ډلې ته اجازت دی.

برید دې وکړي، دریمه ډله سره د اصلحو په ګاډیو کې کښېناسته.

دوهمی ډلې ټول عسکر په جنګ کی بوخت وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریمې ډلې لومړۍ ډلې ته وسلې ور ورسولې.

زه هم د خپل پوره فوځ سره دمانۍ په لور روان شوم.

او محاصره شوې مانۍ ته مو یوځل بیا پیغام ولیږکه، ترڅو د جنګ څخه لاس په سر شي.

د غزني حکمران چې خپل ځان د ماتې په حالت کې ولید.

نو تسلیم شو.

او پدې ډول مو په ډېرو لګو تلفاتو سره غزني ونیو.

د غزني په نیولو سره مو زیات شمیر وسایل لاس ته راغلل.

او د دې ځای عسکر مو هم د امر تابع شول.

له دې څخه وروسته مو مخه کړه د کابل په طرف،

د کابل والي چې زما د ورتلو پیغام ولید.

بغیر د ځواب رالیګلو نه په تیښته بریالی شو.

هرکله چې موږ ته خبر راغی، چې د کابل ښار اوزګار دی.

نو د خپلو ټولوعسکرو سره یوځای د کابل په طرف روان شؤ. د خپل تعداد عسکرو سره د کابل په ښار ورننوتلؤ.

هر فارسیوان او هر پښتون به راته حېران حیران کتل.

فکر کووم تر ډېره وخته یې د غلامۍ په تیارو کې ژوند کړی وو. اوس ورته د خپلواکۍ ژوند نوی ډول معلومېده.

خو یوه مهمه خبره داده، چې چا ټول عمر په غلامۍ کې تېر کړی وي هغوي ته د خپلواکۍ ژوند هېڅ معنا نلري.

دا خلک هم همداسې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو له دې څخه وروسته هېڅ افغان هم د غلامۍ فکر لا ونه واهه.

بلکې نور ډېر خلک يې غلامان تېر شول.

کابل مو هم لاس ته ولوېد.

او ويل کېده چې ننګرهار کې هم څوک نشته.

ترڅو د احمد خان مقابله وکړي.

ځکه مې ننګرهار ته د فوځ يوه برخه ولېږله زه ډېر ستړی وم.

ځکه مې يو څه وخت په کابل کې دمه وکړه.

او فوځ مو هم همدلته پاته شو.

له يو څه وخت تم کيدلو څخه وروسته ما سره د خپل فوځ چې ډېری پکې د نورو قومونو خلک وو.

د ننګرهار په لور روان شو.

او په ننګرهار کې مو د شينوارو او خوګيانو خلکو ډير ښه استقبال وکړ.

له ننګرهاره مو طرحه جوړه کړه.

ترڅو پيښور د نادري حاکم ناصر خان څخه ازاد کړو.

چې د کابل والي او د تېموري دولت مشر هم پېخور ته په تېښته بريالی شوی وو.

واقعاً په ننګرهار کې د شينوارو او خوګيانو خلک ښه مېلمه پاله خلک دي.

زموږ يې ډيره ښه مېلمه پالنه وکړه.

که څه هم موږ هر څه د خوراک ځانته برابرولای شول.

ځکه چی له دې څخه وروسته به په ننګرهار کې هم د احمد خان سکه چليده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نه دې خلکو په خپله غريبه غريبۍ کې موږ ته او زما فوځ ته خه پوره مېلمستيا وکړه.

په شينوارو کې اکثر کلي يو لوی چنار لري.

چې د ډېر پخوا نه همدې خلکو ته پاتې دي او دوي يې هم له سيوري څخه استفاده کوي.

زه هم د خپلو صاحب منصبانو او قومندانانو سره يوځای د ننګرهار د خلکو سره ددې چنار د سيوري لاندی په زوړ پوزي ناست وم.

واقعاً د ننګرهار په سخته ګرمۍ کې دې چنارونو واوروينه هوا لاندې دالله تعالی بنده ګانو ته رارسوله.

د شينوارو خلک ډير د مجلس او د جرګو خلک دي.

پلن پټکي تړي، يو واسکټ يې د پلار څخه په ميراث ورپاتې دې.

او سپينه ګرده خولۍ په ټنډه باندې ږدي، واقعاً چی زما د دې خلکو دود او دستور ډېر خوښ شو.

ددې ورځې په سبا موږ ټول تللو پيخور ته د جنګ لپاره.

د دې ځای خلکو راته ډېر ستونه وکړل.

بلکې بيخي کلک شول.

ويل يې:

که پاتې شۍ موږ به ډير خوشحاله شو.

واقعاً چی د پښتو نوم په همداسې غيرتي خلکو آباد دی.

بس د دې ځای څخه ولاړو.

او د پېښور ښار مو محاصره کړ، خو دښمن مو ډېر چالاکه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه مخکې ورنغلو.

تیموري او نادري حاکمانو موږ سره ښه پوره د جګړې لپاره ځان اماده کړی وو.

بس نه کیده تیموري اونادري حکمرانانو ته مو خطونه ولیګل. خو د خط وړونکو سرونه یې له تن څخه جلا کړل.

دې بې غیرته کار یې سخته غوصه راوسته.

او د ټولو پښتنو وینه ورته په جوش کې راغله.

پښتانه بغیر له امر څخه د پېخور په ښار ننوتل او هر عسکر به یې له تېغه تېروه.

هر پښتون سره دوه دوه نیزې په لاس کې وي.

او لکه د زمري په شان د دښمن په لښکر ځانته ورګډېده.

او روغ به ترې راوته.

په ډېر لږ وخت کې مو صدر او مردان ونیو او کله چې تیموري واکمن وکتل.

حکومت پرې چپه شو.

نو تېخته یې غوره لار وبلله.

د ناصر خان سره هند ته وتختیده.

تر اټک سینده پورې مو خپلې لښکرې ورسولې.

او غنایم مو بیخي ډېر ترلاسه کړل.

ځکه چې تیموري واکمن ته د هند له طرفه ډېر څه پخوا رالیګل شوي وو.

او هغه ټول زموږ په لاس راغلل.

اوس نو موږ د ټولو پښتنو سیمې ونیولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدا ځای مو تر اخره پورې د افغانستان سرحد وټاکه. ځکه چې د پښتنو قبایل تر همدې ځایه پورې میشت وو.

زه په پیخور کې پاته شوم.

واقعاً د پېښور خلک ډېر عاجز خلک دي.

که مو ضرر ور ونه رساوه هېڅ کار نه درسره لري.

زما اراده وه.

ترڅو ولاړ شم بېرته کندهار ته.

ځکه چې په کندهار کې د تیمور په وړاندې یوڅه لنډغر راپاڅېدلي وو.

او دلته هم راته د لاهور والي د سولې وعده راکړې وه.

هر کله چې مې ځان اماده کړ.

ترڅو کندهار ته ولاړ شم.

یو دم د لاهور والي جګړې ته رامخکې شو.

فکر کووم د تیمور په وړاندی هم مشکل همدې د لاهور والي جوړ کړی وو.

ځکه په همداسې سخت وخت کې جنګ ته راوړاندې شو.

ها تاسې به وایې چې تیمور څوک وو.

تیمور زما زوی دی.

او زما د راتلو څخه وروسته دکندهار خلکو هغه د خپل مشر په توګه منلی دی.

د چناب په سیمه کی د لاهور والي د جګړې وړاندیز وکړ.

په دې شپو کې سیند سخت مست وو.

د څپو اوازونه یې په درېم کلي کې اورېدل کیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نو په سیند نشؤ اوړیدلی.

د لاهور والي ډیر هوښیار وو، ځکه یې د چناب ساحل د جګړې ځای وټاکه.

ترڅو موږ د سیند څخه په وتلو کې مشغول شو او هغوي راباندې د توپ ځواک په وسیله اورونه بل کړي.

خو موږ هم د افشار په ځواکونو کی زده کړې کړې وی.

او د دې معلوماتراته سل په سلو کې وو، چې دیوې ناکامۍ سره مو ټوله امپراتوري ړنګیدلای شي.

ځکه د چناب ساحل په پورته خوا د چناب سیمې ته ور داخل شؤ.

او د شا له طرفه مو د لاهور ټول فوځ تس نس کړ.

د لاهور والي شاهنواز چې کله پوه شو چې د شا له خوانه پرې برید شوی.

سم د واره یې د جګړې ډګر پرېښود.

او ډهلي ته په تېښته بریالی شو، د شاهنواز فوځ هم د شاهنواز په تیښتې سره ټول تسلیم شو.

او په خپل پوره تکتیک سره مو لاهور هم لاسته راغی.

مغلي بادشاه چې زموږ له دومره تېزو فتوحاتو څخه خبر شو.

نو له هند څخه یې خپل زوی شاهزاده احمدشاه، د سل زره کسیز لښکر سره چې په پوره وسلو او هر ډول توپونو سمبال وو.

زموږ طرف ته راولیګه.

زه لدې څخه بیخي خبر نه وم، چې شاهزاده احمدشاه راروان دی.

کنه موږ به ورته پوره اماده ګي نیولی وای.

خو یو ناڅاپه یې برید وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د 1161 کال:

په لومړي کې په (مانک پور، مان پور او مالو پور) کې د دواړو لوریو لخوا جګړه ونخته.

پښتانه یې سخت وځپل، زما هم پدې جګړه کې لاس ژوبل شو.

ډېر تاوان دې جګړې راته ورساوه.

او پوهېدم چې نور هم رارسوي، د هند د صدر اعظم قمر الدین په وژلو سره د پښتنو مرال لوړ شو.

خو د قمرالدین ځخه وروسته یې ځوی د فوځ مشري پر غاړه واخیسته.

هرکله چې زموږ په لویه خېمه اور اولګېده.

او د باروتو پر ګودام هم توپ ولګید نور نو پښتانه د جګړې قابل پاتې نشول.

ځکه د شپې د ختمېدلو پر مهال یې شاتګ وکړ او بیرته د چناب د ساحل ځخه راواوړیدل.

خو شاهزاده احمدشاه د سولې پیغام راولیګه.

او موږ هم ومنلو دا وخت د سولې نه وو، خو د دوي د سولې علت داوو.

چې په هند کې محمد شاه ګورګاني ناروغ شو او زموږ په کندهار کې هم لقمان خان د تیمور شاه په وړاندې بغاوت کړی وو.

زه راغلم کندهار ته بیخي مې ذهني حالت خراب وو.

خو راساً د لقمان خان کور ته ورغلم.

له کوره مې راوباسلو.

او د ټولو کندهاریانو په مخ کې مې خې خبرې ورته وکړې.

ورته مې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسره د بهر خلک د هند خلک د لاهور خلک سوله کوي.

او خپل ورور مې راپاڅيږي دلته راسره راسره شر کوي.

ولې ته نه ګورې چې خپلواکي مو لاسته راغله.

ولې د خپل وطن د خپلواکۍ په اهميت نه پوهيږې.

تاسی تکړه شئ بيرون ووزئ .

او د جګړې له اړخه بيرون سيمې د افغانستان په لويه امپراتورۍ کې شاملې کړئ.

ترڅو راتلونکی نسل خو درباندې افتخار وکړي.

تاسې چې لږ زور پيداکړئ، بيا مو خپل ورور رانيولی وي.

له همدې څخه غچ اخلئ.

ای پښتنو!

يوځای شئ د بهرنيانو لپاره

او جګړه له خپل وطن څخه لرې وباسئ.

خپل وطن ته کار وکړئ.

مدرسې پکې جوړې کړئ.

نور د علم لپاره کار وکړئ، اوس نو بهرنيان احمقان دي.

تاسی هوښياران شئ.

هر څوک که غواړي چې جګړه وکړي.

او ډير شوق يې وي.

راځي دې ماسره .

له خپل وطن څخه بهر زه ډيرو زياتو عسکرو ته اړتيا لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرو په کولو سره ټول کندهار کې بغاوت کوونکي ورک شول.

څکه نو زه بیرته روان شوم.

د لاهور په لور خو لاهور یې میرمنو ته سپارلی وو.

والي یې هم میرمنو وو.

میرمنو د جګړې څخه ډډه وکړه.

او ویل یې:

چې هر ډول لاره غواړې درسره یې منم.

بس د جګړې څخه تېر شئ.

څکه نو زه د ننګرهار او پیښور په منځ لاره سیده لاهور ته ولاړم.

د میرمنو سره کښیناستم.

د ګجرات، سیالکوټ، پنجاب، اورنګ اباد او امرتسر مالیات چې څوارلس لکه کیدل.

په میرمنو مو کیښودل.

چې هر کال یې باید د احمد شاهي اعلی دیوان ته ورسوي.

له دې څخه وروسته موږ هم یو دوه کاله ښه په ارامه په کندهار واکمني وکړه.

خو په کال1163ه

کې امیر عالم د هرات په لوري مخه کړه.

او د هرات والي ورته هرات پریښود، امیر عالم هرات ونیو.

ما ورته صبر وکړ څکه امکان لري چې بیرته هرات پریږدي.

خو امیر عالم په نیمه پوه نشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماهم پنځه ویشت زره کسیز لښکر مخکې کړ.

ترځو ورته وخایم د افغانستان خاوره دومره سپکه نده چې نور به پرې اغیار قدم کیږدي.

د هرات ولایت مو ګېر چاپېره کلابند کړ.

خالي تجاران او افغان مسافرین مو پرېخودل.

نور په نوم فارسي مو نه پرېخود، ترڅو دننه فارسیانو ته ګټه ورسوي.

څلور میاشتې کېدلې چې هرات زموږ یو څو نفرو محاصره کړی وو.

خو اوس ورته پوره پنځه ویشت زره کسیز فوځ راغلی وو.

ځکه نو برید مو پرې وکړ.

امیر عالم هم په لومړي سر کې هیڅ همت نه بایله، خو چې ماته یې وکتله.

نور یې نو دوه خپلی کړې او دوه پردۍ او اصفهان ته وتختېده.

لدې سره تیار موږ له کندهاره راوتي وو، نو د مشهد په لوري روان شو.

او شاه ولي خان پوپلزی چې د یو ټولي مشر وو، دا مو شمالي ولایاتو ته ولېږه.

ترڅو هغه ساحې کنټرول کړي.

د مشهد فوځ بغیر له کومې جګړې خخه تسلیم شو.

ځکه چې دوي یوځل مخکې هم زما د فوځ له لاسه مات شوي وو.

او بیا ځلي یې نه غوښتل چې مات شي.

یانه پوهېږم کومه بله خبره به وه.

امکان لري دومره توان یې نه درلود، ترڅو موږ سره ډغره ووهي.

یا به یې اقتصاد خه نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر حال مشهد مو د نادر لمسي شاهرخ میرزا ته وسپاره.

او پخپله د نیشاپور د نیولو لپاره روان شو.

نیشاپور مو هم لکه د هرات محاصره کړ هیڅ فرد نشو کولای چې له دې هېواد څخه ووزي.

خو د نیشاپور واکمن عباس قلي بیات مقاومت وکړ.

او په محاصره کوونکو به يې هر وخت برید کاوه، زموږ د عسکرو تعداد کم وو.

او وسایل هم نه وو، بل په غرونو کې دوخت تیرول وو.

او ژمی هم رارسیدلی وو.

بیخي یخني وه، نور د شپې پدې غرونو کې وخت نه تېرېده.

نو ځکه مو د نیشاپور محاصره ماته کړه.

او بیرته کندهار ته راستانه شو.

پوره یوه میاشت مو په کندهار کې په ارامه تېره کړه.

خو یوه بله بلوا راپیښه شوه.

د بلوچستان خلکو د نصیر خان په مشرۍ بغاوت وکړ.

زما هم نور غوصه راغله.

اوراسأورپسی د خپل پوره فوځ سره ورغلم.

خو داچې دوي هم پښتانه وو .

نو اول نه مې ورته وویل:

چې جنګ ته نه یم راغلی، اصلحې کیږدئ.

او د پاڅون نه تیر شئ، تاسی وس غلامان نه یاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلکې د خپل سر خلک یاست.

او ستا مشر هم ستاسې په ژبه له تاسې سره غږیږي.

تاسو د نصیر خان په پښتو مه تېر وځئ.

هغه مو تېرباسي، بلکې د خپلو مسلمانانو مشرانو اِطاعت وکړئ.

انشاالله بریا به زموږ وي.

د همدې خبرو سره د بلوچستان د خلکو پاځونونه هم غلي شول.

او د بلوچستان ولایت په دربار کې مو د پاڅون کوونکو مشران وګومارل.

تر څو خولې یې وَربندي شي.

خو بیامې هم پرې باور نه درلود، ځکه چې هسې نه زه به د بهر په جګړو کې بوخت یم.

او دلته به دوي پاځونونه کوي.

نو ځکه مې د همدې پاڅون کوونکو مشر نصیر خان راوست.

د ټول بلوچستان ولایت دربار مې ورته ورکړ.

ترڅو هرڅه کوي خپل کار یې زه چې راځم، ترهغې خو به ارامې وي کنه.

بیرته راغلم کندهار ته

کال 1164:

دا ځل مو د نیشاپور د نیولو لپاره ښه پوره تابیا ونیوله.

د پخوا په څېر مو هغه نفر چې یې زره وو لومړی مو هغه یې اصلحې ورولېګل.

بیا مو ورپسې اصلحه دار عسکر وروليګل، ترڅو عسکر په جګړه کې بوخت وساتي.

دې اصلحه داره عسکرو ته مو د ډیرې چالاکۍ تمرین ورکړې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوي یو نفر به د یوولسو نفرو سره مقابله کوله.

او مخالف یولس نفر به هم پدې نه پوهیدل، چې مخې ته مو د غره تر شا یو نفر دی.

ځکه هغه به په لږ وخت کې د ډیرو طرفونو نه ډزې کولې.

بې اصلحې عسکر تر شاهي مانۍ پورې رسیدلي وو.

او په ګاډیو کې مو ورته توپونه او وسلې ورورسولې.

هغوي شاهي مانۍ کلابنده کړه.

خو زموږ نور عسکر د عسکرو په منځ کې نشول تللای.
ځکه د نیشاپور ډېر لوی فوځ وو.

او زه نه شوم تېرېدلای.

بس جګړه د هرې خوانه ونختله.

ما د عسکرو په منځ کې تر شاهي مانۍ ځان ورساوه.

هر کله چې عباس قلي بیات ولیدل.

نو همدا مهال یې د خپلو عسکرو په ذریعه پر موږ برید وکړ..
موږ هم په شاهي مانۍ برید وکړ.

که څه هم دا د شاهي اصولو خلاف کار وو، خو زموږ عسکرو ورته اول نه اختار ورکړی وو.

ځکه نو شاهي مانۍ ونیول شوه او په ټولو عسکرو د مرکز رابطه قطه شوه.

ځکه یې مرال خراب شو او نیشاپور هم فتحه شو.

دا وخت خبر راغی، چې شاهرخ میرزا بغاوت کړی.

بس همدا بغاوتونه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زموږ پرې سر وو، ځکه نو زه بیرته مشهد ته راغلم.

شاهرخ ته مې وویل:

چې نور درته هېڅ نه وایم، خو لدې څخه وروسته به دې په هیواد کې سکه هم د افغانانو چلیږي.

او خطبه کې به نوم هم د افغانانو د امیر اخلي.

او لاندې سیمې به افغانستان پورې تړل کیږي، بیا به بیرته د دې ځای مشري درکړم.

تربت جام، تربت حیدري، بافرز، خواف اوترشېز

بس دغه سیمې مو پرېښوولی.

او کندهار کې هم پاتې نشوم، ځکه چې په پنجاب کې ګورګانی شهزاده د مالیاتو د ورکولو څخه انکار کړی وو.

ځکه نو ورغلم.

خو هغه وویل:

چې د مالیاتو پر ځای به د احمدشاه په قلمرو کې سند، کشمیر او پنجاب داخل شي.

مطلب پورتنۍ سیمې دې، د افغانستان د حکومت په ولکه کې وي.

دا ښه خبره وه.

ځکه مې مېرمنو یو ځل بیا د پنجاب والي کړ او هغې به خپل مالیات خه په پوره ډول رالیږل.

یو دوه کاله مو بیا خه په ارامۍ وخت تېر کړ.

خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال1167:

کې مېرمنو مړ شو.

ټولو پنجابیانو یې جنازه ښه په احترام سره وکړه.

ډېر زیات خلک بلکې ټول پنجاب د میرمنو په مرګ خفه شو.

ځکه مېرمنو پخپله د پنجاب شخص وو.

د پنجاب لپاره یې هېڅ د جنګ زمینه نه پرېښودله.

(لیکوال)

(...له دې څخه موږ ته معلومیږي.

څوک چې له جنګ څخه خپل هېوادل په هر ډول حالت کې ساتي نو د عوامو په زړونو کې ځای نیسی.

او عوام یې تر مرګه پورې بیا احترام کوي.)

یو څوی یې درلود.

او همغې ته یې د حکومت چارې پاتې شوې، داچې څوی یې ډېر کوچنی وو.

ځکه یې د واک چارې ټولې مور ته پاته شوې.

د پنجاب نور امیران په دی پریکړه خفه شول.

ځکه چې یوه ښځه به څنګه د ټولو پنجابیانو د حاکمیت چارې پر مخ وړي.

ځکه نو غازي الدین د پنجاب د امیرانو له ډلې څخه راپاڅېد.

په پنجاب یې حمله وکړه او پنجاب یې بغیر له کوم تشدد څخه ونیو.

ځکه چې د مېرمنو مېرمن نه غوښتل، چې خپل ولایت په وینو سور کړي.

د مېرمنو مور او څوی یې له حکومت څخه لرې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ادینه بیګ يې خپله د پنجاب والي کړ.

د کشمیر خلکو د پنجاب حالات ولیدل، چې خلک يې د احمد خان پر وړاندی کامیاب شول.

نو په کشمیر کې هم د سکجیوان په نوم یو شېخ بغاوت وکړ.

راساً ولاړ ولایت ته او والي خواجه کوچه يې مړ کړ.

د دې خبرو په اوریدلو باندې زه سخت خفه شوم.

ځکه نو سیده لاهور ته روان شوم، په لنډ وخت کې لاهور ته ورسېدم.

نور الدین خان بامیزی مې په سکېجوان پسې ولیګه.

تر څو ماته يې راولي.

دې اخر ولی یو بیګناه والي وژلی دی.

سکیجوان يې ونیو او ماته يې راوست، دابې غیرته مو په زندان کی بندي کړ.

او تراوسه پوری بندي دی.

کشمیر يې یوځل بیا د افغانستان په لویه امپراتورۍ کې شامل کړ.

زه تیار د کندهار نه راوتې وم.

ځکه نو د ډهلي په طرف روان شوم، په ډهلي کې داسې یو انسان نه وو.

چې زما مقابله وکړي.

په کرنال کې د اصالت خان یوسفزي ځوی نواب نجیب الدوله سره مخ شوم.

هغوي هم راسره یوځای شول.

د پوره طاقت سره بغیر له کومې ویرې ډیلي ته ننوتو.

زه دانه وایم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زموږ دا لوی ارمان وو ترڅو ډهلي ونیسو.

خو دا مهال راته ټولو عسکرو د ډیلي تخت پرېښود، ځکه چې د ډهلي یو انسان هم د اقتصاد له اړخه برابر نه وو.

یاهم شاید کومه بله خبره به وه.

دویم عالمګیر مو د ډیلي پر تخت کیناوه.

او د وزارت چارې مو له غازي څخه واخیستی او د قمرالدین خان زوی نظام الدوله ته مو په لاس کې ورکړې.

ترڅو په ښه ډول یې پر مخ یوسي.

نواب نجیب الدوله مو د هند سپه سالار وټاکه.

او ګورګانی شاهزاده، احمد شاه خپله لور تیمور ته په نکاح کړه.

لدې هرڅه وروسته زه بیرته کندهار ته راغلم، تر څو یو څه وخت په آرامه ژوند وکړو.

پاني پت:

زه لا کندهار ته نه وم راغلې چې غازي الدین بیا بلوا جوړه کړه.

دا ځل سیکان، راجپوتان او مرهټیان هم ورسره ودریدل.

د دوی نور هیڅ وس نه رسېده.

ځکه نو دوی ټولو بې غیرتانو هلته په هند کې په مسلمانانو ظلمونه شروع کړل،

ترڅو احمدخان بیا راشي.

د دوی شمیر ډیر زیات وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دومره شمیر زما د فوځ نه وو.

خو بس ونشوه.

ماته د افغانستان خلکو وویل:

چې ورځه پرې نور کامیابي او ناکامي د الله تعالی له لوري راځي.

د غازي الدین ملا ټولو سیکانو، راجپوټانو او مرهټیانو قوي کړه.

د هغوي شمیر درې سوه زرو ته ورسید.

ماسره خالي یوه لاره وه، ترڅو د نصیر خان څخه چې په بلوچستان کې دی.

مرسته وغواړم.

ځکه چې له هغې سره هم ډیر زیات فوځ برابریږي.

ما له نصیر خان څخه مرسته وغوښتله، هغه نصیر خان چې دپاځون په وخت کې د بلوچانو مشر وو.

او ټول بلوچستان چې مې ورته حواله کړی وو.

خو نصیر خان مرسته ونکړه.

نه پوهیږم ولی؟

خو دا د ځینو بې غیرته خلکوعادت دی.

چې تل به دې په سخت وخت کې یوازی پریږدي.

ګر چې ماورسره اول نه خبره کړی وه، چې زما به د دی پنجابیانو سره جګړه رازي.

او خالي می سترګې ستا او د تیمور مرستې ته دي.

خو هېڅ مرسته یې ونکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بولان له لاری پېښور ته راغلم، پېښور کې راته تیمور شاه او جهان خان اول نه ناست وو .

له دوی سره یوځای د اټک په سیند راواوړېدم.

نجیب الدوله، سعدالله خان، روهیله او شجاع الدوله هم راسره یوځای شول.

زموږ د ټول لښکر شمېر شپېته زرو ته ورسېد.

خو له بلې خوا څخه پنجابیان، هندوان او مرهټیان د درې لکو څخه هم زیات وو.

ډېر ژر مو ځان د پاني پت نومې سیمې ته راورساوه.

واقعاً چې دې ظالمانو په مسلمانانو سخت ظلمونه شروع کړي وو.

هر کله چی پښتنو دا حالات ولیدل.

نو سم د واره یې برید وکړ، جګړه پیل شوه.

د دښمن فوځ راباندې ډېر قوي وو، خو د هند مسلمانانو هم پر سکانو برید وکړ.

اوموږ هم ورته توپونه برابر کړل.

موږ د ډیرو فتحو په ترڅ کې زیات شمیر غنایم ترلاسه کړي وو.

چې دا مهال مو ترې ګټه واخیسته.

په دریو توپونو سره په مرهټیانو کې غوغا ګډه شوه، چی د احمدخان فوځ قوي شو.

دا چې ما د جنګ په ډګر تر اوسه ماته نه وه خوړلې او پدې سره مې ډېر لوی نوم ګټلی وو.

او هر عسکر زما له نوم څخه ښار خوړ نو:

ډیری یې زړه عسکرو شاته منده کړه، خو شاته ورته تیار خپله د هند مسلمانان ولاړ وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې دوي پرې ظلم کړی وو.

یو نفر هم ترې روغ رمټ ونه واته.

په سکانو باندې مو د شوبلو او توپچي ځواک برابر کړ.

مرهټیان مو د ځمکنې فوځ سره ونښتل،

او د راجپوتانو سره خپل مسلمانان ونښتل،

هر کله چې سیکانو خپل ځان د اور د لمبو په منځ کې ولید.

نو خالي به یې ځان ته لاره کتله او هر نفر چې به تختېده بیاهم ژوندی نه پاتی کیده.

د مرهټیانو 30000 نفر په خندقونو کې بې روحه پراته وو.

دویرې او خفګان څخه ډکه ورځ وه.

د مړو په جسدونو د اسمان بازانو دورې وهلې.

مور. خپل شهیدان راغونډ کړل او افغانستان ته مو راولیګل.

او د سکانو او مرهټه وو، مړي مو د هر یوه کورنۍ ته ولیګل.

او دا مو هغه قوم ته وخودله چې د مسلمانانو په حقوقو باندې تېری څه معنا لري.

د اسمان وریځو د قهر نارې وهلی.

سیندونو یې د ویر سلګۍ کولې او په زړګونو میندې، او مېرمنې د راجپوتانو، سیکانو او مرهټیانو کونډې شوی.

ماچی په هغه ورځ کوم درد لیدلی.

او څومره چې خپل ضمیر ته ملامت وم، هېڅکله به هم بیا نشم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مانه غوښتل ترڅو د هغو ځوانانو غرور تر پښو لاندی کړم، چې نوي په ځوانۍ راغلي وو.

او ټوله دنیا ورته کمزورې ښکارېده.

ما دا هم نه غوښتل چې زه دې چاته خپل ځان قوي وروخایم.

زه د قتلونو او د مرګونو په ښار کې رالوی شوی یم.

خو تراوسه مې دومره درد نه وو لیدلای.

دا لومړي ځل وو چې دومره وردردیدلم.

هغه ځکه چې د ډیرو میندو په غېږو کې مې د هغوی د بچو سرونه ولیدل.

د ډېرو انجونو په سترګو کې مې د هغوي د ښځې کېدو ارمان نیمګړی ولید.

واقعاً چې دا سخت زور لري.

زه به بیا نه ژوندی کیږم.

خو دا پدې کتاب کې لیکم، چې ما دا هرڅه د دې لپاره ندي کړي.

چې زه دې لوی امپراتور جوړ شم.

بلکې دلته د مسلمانانو سره د ظلم د مخنیوي په خاطر مې وکړل.

له هغې څخه وروسته زه سیده راغلم.

نصیر خان پسې هغه مې بندي کړ او سخته سزا می ورته مقرره کړه.

واقعاً چې د داسې بې غیرته انسان لپاره همدا ښه سزا وه.

زه پوره باور لرم.

چې افغانان به د خپل هیواد پولي تر ډېره وخته وساتي.

او ان شالله چې هیڅ یرغلګر به هم بیا دغې خاورې ته په سپک نظر ونه ګوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



واسلام.

ستا د عشق له وېنو ډک شول ځېګرونه
ستا په لاره کې بايلي زلمې سرونه

که هر څو مي د دنيا ملکونه ډير شي
زما څخه هېرنشي داستا ښکلې باغونه

درقيب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چه په تورو پښتانه کا ګذارونه

تاته راسمه زړګې زما فارغ شي
بې له تا مي اندېښني د زړه مارونه

ددهلې تخت هيرومه چه رایاد کړم
زما دښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

که تمامه دنيا يو خواته بل خوايي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خوښ دي ستا دا تش تش ډګرونه

"احمدشاه" به داستا قدر هېر نکا
که ونېسي د تمام جهان ملکونه

---

لیکوال:

احمدشاه بابا خپل هیواد او افغانانو ته ډیرستر خدمتونه وکړل.
د هغه په وخت کې خرقه شریفه کندهار ته راوړل شوه.
د شبرغان او کندهار ښارونه دده په امر ودان شول.
همدارنګه نور ډېر ستر کارونه چې په تاریخ کې په زرینو کرښو لیکل شوي دي.

دې سترفاتح
د۱۱۸٦ هـ کال:
د رجب د میاشتې په شلمه نېټه د جمعې په مبارکه شپه، د عمر په یو پنځوس کلنۍ کې یې ساه ورکړه.
او د تلپاتې ژوند په لور یې روح والوت.
انالله وانااليه راجعون.

(c) ketabton.com: The Digital Library





ستا د عشق له وېنو ډک شول ځېګرونه
ستا په لاره کې بايلي زلمې سرونه

که هر څو مې د دنيا ملکونه ډېر شي
زما څخه هېرنشي داستا ښکلې باغونه

درقيب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چه په تورو پښتانه کا ګذارونه

تاته راسمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې انديښنې د زړه مارونه

ددهلې تخت هيرومه چه راياد کړم
زما دښکلې پښتونخوا د غرو سرونه

که تمامه دنيا يو خواته بل خوابې
زما خوښ دي ستا دا تش تش ډګرونه

"احمدشاه" به داستا قدر هېر نکا
که ونېسي د تمام جهان ملکونه

———

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**